د افغانستان بانک

بانک مرکزی افغانستان

# د افغانستان بانک کلنی راپور

۱۳۸۵

# د افغانستان بانک د عالي شورا غړي



له ښي خوا کيڼ خوا ته:
محترم سميع الله ابراهيمي، د عالي شورا مرستيال
ډاکټر شاه محمد محرابي، غړی
ډاکټر عبدالغني غوثي، غړی
محترم نورالله دلاوري، د عالي شورا رئيس
ډاکټر غلام محمد ييلاقي، غړی
ډاکټر عمر زاخيلوال، غړی

# د افغانستان بانک مشرتابه پلاوی



نورالله دلاوري

د افغانستان بانک سرپرست



سمیع الله ابراهیمي

د افغانستان بانک لومړی مرستیال



الحاج محمد عیسی طراب

د افغانستان بانک دویم مرستیال

# فهرست


| | |
|---|---|
| د افغانستان بانک د ریاست د سرپرست پیام | الف |
| ۱. د پولي سیاست څرنګوالی | ۱ |
| ۲. د عملیات بازار کړنې | ۶ |
| ۳. مالي راپورونه | ۹ |
| ۴. د سوداګریزو بانکونو څارنه | ۴۱ |
| ۵. د تادیاتو بهیر | ۴۷ |
| ۶. پرمختیا او اداري بهیر | ۵۰ |



د افغانستان بانک د مشرتابه پلاوي په استازیتوب ډېر خوښ یم چې د افغانستان بانک خپل لومړنی کلنی راپور وړاندې کوي. د افغانستان بانک کلنی راپور د هیواد د اقتصادي څرنګوالي تر اړخه د مرکزي بانک کړنې او لاسته راوړنې هم په ۱۳۸۵ هجري لمریز کال کې رانغاړي.

۱۳۸۵ کال د افغانستان اقتصاد لپاره یو آسانه کال نه و، د هیواد اقتصادي وده د ۱۳۸۴ هجري لمریز کال په پرتله په سلو کې ۷،۵ ته راټیټه شوه، په داسې حال کې چې په ۱۳۸۴ کال کې د هیواد اقتصادي وده په سلو کې ۱۴.۵ وه. سره له دې چې د کرنې سکتور د وچکالۍ له امله د هیواد پر اقتصادي ودې منفي اغیزه وکړه، خو بیا هم کرنې د هیواد د کورني ناخالص تولید په سلو کې ۳۲ جوړوله.

همدا ډول په ۱۳۸۵ کال کې پولي پراختیا لامل شوه چې د خلکو اعتماد پر افغانۍ پیاوړی شي. د پړسوب کچه په بې ساري توګه په سلو کې ۴.۸ ته راټیټه شوه او د افغانۍ نرخ د یو امریکایي ډالر په وړاندې په ثابته توګه نژدې ۵۰ افغانۍ وه، بهرنۍ خالصه زیرمه نژدې ۲ ملیارد ډالرو ته ورسیده او د سوداګریزو بانکونو امانات او پورونه هم نژدې دوه برابره سیوا شول.

ارزې زیرمو په ۱۳۸۵ هجري لمریز کال کې په سلو کې ۲۳.۲ وده وکړه.

په ۱۳۸۵ هجري لمریز کال کې سرانه عاید ۳۰۶ امریکایي ډالرو ته ورسید، په داسې حال کې چې په ۱۳۸۱ هجري لمریز کال کې سرانه عاید ۲۰۱ امریکایي ډالره و، په تیرو څلورو کلونو کې د سرانه عاید کچې په سلو کې ۵۳ وده کړې ده، چې د خلکو د ژوندانه د کچې ښوالی ښکاره کوي.همدا ډول د پیسو د ګردښت وده د ۱۳۸۴ کال په پرتله په ۱۳۸۵ هجري لمریز کال کې په سلو کې ۱۱،۳ وه.

د اقتصادي بریاوو تر څنګ د افغانستان بانک وتوانید چې په ۱۳۸۵ هجري لمریز کال کې د ادارې، بشري ځواک او پراختیا په برخه کې هم رغنده لاسته راوړنې ولري. په ۱۳۸۵ هجري لمریز کال کې د افغانستان بانک نوي مسکوکات معرفي کړل، د مرکز او نمایندګیو ودانۍ یې ورغولې، زړې پیسې یې له بازار څخه راغونډې کړې، د معلوماتي ټکنالوژۍ په برخه کې یې پرمختګ وکړ، د افغانۍ د دودلو په موخه یې هلې ځلې وکړې، د بانک د کارکوونکو د وړتیا د لوړوالي لپاره یې رغنده ګامونه پورته کړل، د کپیټل نوټ نشرول یې تر لاس لاندې ونیول او په ټولیزه توګه یې د افغانستان بانک عصري کولو او مدرن کولو خوا ته ویوړ.

نورالله دلاوري

د افغانستان بانک د ریاست سرپرست

# ۱

# د پولي سیاست څرنګوالی

۱۳۸۵


۱

# د پولي سیاست څرنګوالی

## د کورني ناخالص تولید وده:

په ۱۳۸۵ هجري لمریز کال کې د افغانستان اقتصادي ودې په سلو کې ۷.۵ ته ټیټوالی وموند، په داسې حال کې چې دا وده په ۱۳۸۴ هجري لمریز کال کې په سلو کې ۱۴.۵ وه. د دې ټیټوالي یو اصلي لامل د کرنیز سکتور ټکنی وده وه چې لامل یې وچکالي وه. سره له دې په ۱۳۸۵ هجري لمریز کال کې کرنیز سکتور د افغانستان د اقتصاد له مهمو سکتورونو څخه شمیرل کیده. په داسې حال کې چې په ۱۳۸۴ هجري لمریز کال کې کرنې د هیواد د کورني ناخالص تولید په سلو کې ۳۸.۲ جوړوله، په ۱۳۸۵ کال کې دا ونډه د یوه کافي کموالي سره په سلو کې ۳۲ ته ورسیده. لاندینی ګراف د ۱۳۸۱ هجري لمریز کال څخه تر ۱۳۸۵ هجري لمریز کال پورې د هیواد اقتصادي وده ښکاره کوي:


د ۱۳۸۱ کال څخه تر ۱۳۸۵ هجري لمریز کال پورې د کورني ناخالص تولید د ودې سلنه



## سرانه عاید ( د هیواد پر نفوس د کورني ناخالص تولید ویشنه):

د افغانستان سرانه عاید په پرله پسې توګه ډیروالی مومي. په تیروو څلورو کلونو کې سرانه عاید په سلو کې ۵۳ زیاتوالی موندلی دی. په ۱۳۸۵ هجري لمریز کال کې سرانه عاید ۳۰۶ امریکایي ډالرو ته لوړ شو چې د خلکو د ژوندانه د ښه کیدو ښکارندوي کوي، په داسې حال کې چې په ۱۳۸۱ کال کې سرانه عاید ۲۰۱ امریکایي ډالر اټکل شوی و. لاندیني ګراف له ۱۳۸۱ کال څخه تر ۱۳۸۵ هجري لمریز کال پورې د سرانه عاید د ودې څرنګوالی ښکاره کوي:

له ۱۳۸۱ کال څخه تر ۱۳۸۵ کال پورې د سرانه عاید د ودې سلنه




## د مبادلې نرخ:

د افغانستان بانک هڅه کوي چې د معقول پولي سیاست په غوروالي سره د بهرنیو اسعارو په وړاندې د افغانی د مبادلې د نوسان مخه ونیسي. سره له دې په ۱۳۸۵ هجري لمریز کال کې د افغانی ارزښت د ډالر او یورو په وړاندې کم شو. د یورو په وړاندې د افغانی د ارزښت کموالی، په نړیوالو مالي بازارونو کې د یورو د ارزښت لوړوالی و. په ۱۳۸۵ هجري لمریز کال کې د افغانی ارزښت د ډالرو په وړاندې د ۱۳۸۴ کال په پرتله په سلو کې ۰.۳۶ ټیټوالی وموند چې د ۱۳۸۵ هجري لمریز کال په پرتله په منځني توګه په سلو کې ۰.۳۴ ټیټوالی ښکاره کوي. همدا ډول د یورو په وړاندې د افغانی ارزښت په ۱۳۸۵ هجري لمریز کال کې د ۱۳۸۴ کال په پرتله په سلو کې ۱۱.۱۱ ټیټوالی وموند چې د ۱۳۸۴ کال په پرتله دا ټیټوالې په منځني توګه په سلو کې ۵.۴۸ اټکل شوی دی.خو د افغانی ارزښت د پاکستانی روپیې په مقابل کې په ۱۳۸۵ هجري لمریز کال کې نسبي ټیکاو درلود. په دې کال کې د ۱۳۸۴ هجري لمریز کال په پرتله د روپیې په وړاندې د افغانی ارزښت په سلو کې ۰.۵۰ ډیروالی وموند. پاکستانی روپیې په ۱۳۸۵ هجري لمریز کال کې د ۱۳۸۴ کال په پرتله په منځني ډول ۰.۳۱ ټیټوال پیدا کړ. په ۱۳۸۵ هجري لمریز کال کې د هیواد د بهرنیو اسعارو د مبادلې په بازارونو کې افغانی د یو ډالر په وړاندې د ۴۹.۴ او ۵۰.۴ افغانی تر منځ مبادله کیده.


په ۱۳۸۵ هجري لمريز کال کې د افغانی د ورځني مبادلې منځنی نرخ




## تورم:


د پړسوب (انفلاسيون) مهارول د افغانستان بانک له بنسټيزو دندو څخه شميرل کيږي او د افغانستان بانک تل هڅه کوي چې په هيواد کې د پړسوب مخه ونيسي.

عمومي پړسوب په ۱۳۸۵ کال کې يو رام پړسوب و. په کابل کې د مصرف کوونکو د بيو عمومي شاخص د ۱۳۸۵ کال په پای کې ۱۳۱.۸ ته ورسيدو چې د پړسوب په سلو کې د ۴.۸ نرخ ښکارندوي کوي، په داسې حال کې چې په ۱۳۸۴ هجري لمريز کال کې د پړسوب نرخ په سلو کې ۹.۵ و. د مصرف کوونکو د بيو شاخص د سونګ موادو او بريښنا د بيو د ډيروالي له امله زيات شو. په ۱۳۸۵ هجري لمريز کال کې د بريښنا د بيو شاخص په ډراماتيکه توګه په سلو کې ۵۱.۴ ډير شو چې لامل يې د اوبو او انرژۍ وزارت لخوا په اداري لګښتونو کې په سلو کې ۳۰۰ ډيروالی و. د ډيزل او پترول په بيو کې ډيروالی، چې د سونګ اصلي توکي شميرل کيږي د سوند موادو شاخص يې د ۱۳۸۴ هجري لمريز کال په پرتله په پرله پسې توګه په سلو کې ۸.۵ او ۵.۷ لوړ کړ.




اصلي تورم چې د کور انفلیشن په نامه یادیږي او د سونګ مواد او خوراکي توکي په کې شامل نه دي، په ۱۳۸۵ هجري لمریز کال کې په سلو کې د۶.۴ یو شمیریزه نرخ ته راټيت شو، په داسې حال کې چې دا نرخ په ۱۳۸۴ کال کې په سلو کې ۷.۷۱ و چې د تیر کال په پرتله په سلو کې ۱.۳۱ کموالی ښکاره کوي.

په کابل ښار کې د مصرف کوونکو د بیو د شاخص پر بنسټ عمومي انفلاسیون




د احصاییې مرکزي اداره د مصرف کوونکو دوه ډوله شاخص وړاندې کوي چې یو یې په کابل ښار کې د مصرف کوونکو د بیو شاخص دی او بل یې په ملي کچه د مصرف کوونکو د بیو شاخص دی چې د کابل، کندهار، جلال آباد، مزار شریف او خوست ښارونه په کې شامل دي.

له همدې امله عمومي تورم چې د هیواد په کچه کال په کال اټکل کیږي، په ۱۳۸۵ هجري لمریز کال کې په سلو کې ۳.۸ و، په داسې حال کې چې عمومي انفلاسیون په ۱۳۸۴ هجري لمریز کال کې په سلو کې ۹.۸ اټکل شوی و.



## په ۱۳۸۵ کال کې د افغانۍ ګردښت:

په ۱۳۸۵ هجري لمريز کال کې د افغانۍ د ګردښت وده د ۱۳۸۴ کال په پرتله په سلو کې ۱۱.۳ وه. په ۱۳۸۵ هجري لمريز کال کې اسعاري زيرمې په سلو کې ۲۳.۲ وده وکړه او په ورته وخت کې بانکي امانات چې په ۱۳۸۴ کال کې ۲۷.۵ – اټکل شوي وو په ۱۳۸۵ کال کې په سلو کې ۳۴۲ زياتوالی وموند، په داسې حال کې چې د بانکي اماناتو کچه په ۱۳۸۵ کال کې په سلو کې ۲۰۶.۵ وړاندوينه شوې وه.

په ۱۳۸۵ هجري لمريز کال کې کورنۍ خالصې شتمنۍ په سلو کې ۰.۲۶ ډيره مهمه وده وکړه چې د ۹۱ مليون افغانيو معادله وه. همدا ډول د هيواد د بانکدارۍ سيستم بهرنۍ نګه شتمنيو په سلو کې ۱۰ وده درلوده چې ډير مهم لامل يې د افغانستان بانک د اسعارې زيرمو په سلو کې ۱۳ وده وه. •

# ۲

# د عملیات بازار کړنې

۱۳۸۵


# ۲

# د عملیات بازار کړنې

## د بهرنیو اسعارو لیلام:

د بهرنیو اسعارو لیلام چې د مبادلې د نرخ د ثبات لپاره یوه مهمه وسیله ګڼل کیږي او همدا ډول د پیسو د عرضې وده کنترولی شي، د افغانستان بانک له هغه سیاست څخه شمیرل کیږي چې دې بانک ته اجازه ورکوي چې د افغانۍ د ارزښت ساتلو په موخه د افغانۍ د تقاضا او عرضې انډول وساتي او همدا ډول د پیسو سیالیت راټیټ کړي تر څو د انفلاسیون مخه په ملي اقتصاد کې ډب کړي.په ۱۳۸۵ هجري لمریز کال کې د افغانستان بانک د بازار د عملیاتو عمومي مدیریت هره اونۍ دوه ځله ( شنبه او سه شنبه) د بهرنیو اسعارو لیلام تر سره کړی دی. په ورته وخت کې د افغانستان بانک په ۱۳۸۵ هجري لمریز کال کې دوه ځله پاکستانی روپیې لیلام کړي دي، چې لومړی ځل ۴۶/۵۰۰/۰۰۰ روپیې او دویم ځل ۱۵/۰۰۰/۰۰۰ روپیې په دې لړ کې لیلام شوی دي. همدا ډول په ۱۳۸۵ هجري لمریز کال کې یو ځل ۱/۵۳۹/۱۳۳/۹۵۰ ایراني ریاله د افغانۍ د ارزښت د ټیکاو په موخه لیلام شوي دي. لاندینی چارټ د امریکایي ډالرو لیلام په هرې میاشتې کې ښکاره کوي.

لیلام شوي امریکایي ډالر




## کپیټل نوټ:


کپیټل نوټ چې د مرکزي بانک لنډمهاله بیه لرونکي پاڼې دي او د افغانۍ د ارزښت لپاره یوه مهمه وسیله ګڼل کیږي، د افغانستان بانک لخوا په اونیزه لیلام کې پلورل کیږي. دا کپیټل نوټ اوس مهال یوازې سوداګریزو بانکونو ته پلورل کیږي. د افغانستان بانک هڅه کوي چې د کپیټل نوټ د پلورلو سره د یوې خوا په ګردښت کې د افغانۍ کچه راټیټه کړي چې په خپله د بهرنیو اسعارو په وړاندې د افغانۍ د ارزښت د ثبات لامل کیږي او له بلې خوا هڅه کوي چې د دې لارې د پانګې د مارکیټ میکانیزم را منځ ته کړي.

کپیټل نوټ د لومړي ځل لپاره په ۱۳۸۳ هجري لمریز کال کې د ۳۰ ورځني او اورنایټ نوټ سره پیل شو چې د هر یو حجم پنځوس ملیونو افغانیو ته رسیده خو په ۱۳۸۵ کال کې د هغه پر ځای ۲۸ او ۵۶ ورځني کپیټل نوټونه معرفي شول چې د هر یو حجم ۱۰۰ ملیونه او ۵۰ ملیونه افغانۍ و. خو وروسته د ۲۸ ورځني کپیټل نوټ حجم ۲۰۰ ملیونه افغانیو ته ورسیدو او د ۵۶ ورځني کپیټل نوټ موده ۱۸۲ ورځو ته وغزول شوه.د کپیټل نوټ په لیلام کې یوازې سوداګریز بانکونه کولای شي ونډه واخلي چې د افغانستان بانک څخه یې جواز اخیستی وي. وروسته له دې چې د افغانستان بانک لخوا د کپیټل نوټ لیلام پیل شو، د کپیټل نوټ لیلام په بیړه وده وکړه او د کال په نیمایي کې د ۲۸ ورځني کپیټل نوټ لیلام ۳۵۰ ملیون افغانۍ او د ۵۶ ورځني کپیټل نوټ لیلام ۲۵۰ میلیون افغانۍ ته ورسید. په لنډه توګه ویلې شوو چې په هر لیلام کې د ۲۸ ورځني کپیټل نوټ لیلام ۲۰۰ ملیونو افغانۍ او ۵۶ ورځنی کپیټل نوټ موده ۱۸۲ ورځو ته د ۵۰ ملیونو افغانۍ سره وغزول شوه. د ۱۳۸۵ کال په وروستیو کې د ۲۸ ورځني کپیټل نوټ کچه په بی ساري توګه ۷۰۰ ملیونو افغانیو او د ۱۸۲ ورځني کپیټل نوټ کچه ۱۵۰ ملیونو افغانیو ته ورسیده.

د کپیټل نوټونو د لیلامولو څرنګوالی



د ۱۳۸۵ هجري لمريز کال په يوې موده کې د کپيټل نوټ په ليلام کې د ګډون د ډيروالي له امله د ۲۸ ورځني کپيټل نوټ د ربحې نرخ په سلو کې له ۸ څخه په سلو کې ۴.۹ ته راټيټ شو او د ۵۶ ورځني کپيټل نوټ د ربحې نرخ هم په سلو کې له ۸ څخه په سلو کې ۵.۱ ته راټيټ شو. خو د ۲۸ ورځني بانکنوټ د ډيرې عرضې ( د ۱۰۰ مليونو څخه تر ۲۰۰ مليونو افغانۍ پورې) او د نوي ۱۸۲ ورځني کپيټل نوټ د معرفي له امله د دواړو ۲۸ ورځني او ۱۸۲ ورځني کپيټل نوټونو د ربحې نرخ بيرته لوړ شو او په سلو کې۸ ته ورسيد.




د افغانستان بانک ارزې زيرمه په ۱۳۸۴ هجري لمريز کال کې ۱.۷ مليارده امريکايي ډالره وه خو دا زيرمه په ۱۳۸۵ هجري لمريز کال کې ۲.۲ مليارد امريکايي ډالرو ته لوړه شوه. په ټوليزه توګه په ۱۳۸۵ هجري لمريز کال کې د ۱۳۸۴ کال په پرتله په ارزي زيرمو کې ۴۵۱/۲۵۶/۹۸۴.۱۲ ډالره زياتوالی راغلې چې په سلو کې ۲۶ ډيروالې ښکاره کوي.

د ۱۳۸۵ هجري لمريز مالي کال لپاره د اسعاري زيرمو له پلوه د عوايدو وړاندوينه ۴۴ مليونه ډالره شوې وه، خو دا کچه په ۱۳۸۵ کال کې ۵۸ مليونو امريکايي ډالرو ته ورسيده.

# ۳

# مالي راپورونه

۱۳۸۵

# ۳

# د بانک مالي راپورونه

## د خپلواک تفتيش رپوټ

د افغانستان بانک عالي شورا ته،

مونږ ته وظيفه راکړل شوه چې د افغانستان بانک (چې تر دې وروسته په دې متن کې د بانک په نامه يادېږي) مالي رپوټونه تفتيش کړو. ياد شوي صورت حسابونه چې له دغه رپوټ سره مل دي، د ۱۳۸۵ کال د کب د مياشتې د ۲۹مې نېټې پر بيلانس شيټ، د عوايدو شرحه او د تېر کال په بهير کې په پانګه کې د تغييراتو پر رپوټ مشتمل دي. همدارنګه، د محاسبې د مهمو پاليسيو او نورو توضيحي يادښتونو په هکله لنډ معلومات وړاندې شوي دي چې د (۶۷) نه کتل شويو څانګو او (۷) کتل شويو څانګو نتايج په کې شامل دي او تفتيش يې زمونږ له خوا ترسره شوي دی.

د لاندې (۱) فقرې په (i) جزکې د مندرجو تعديلاتو په استثنا، اړوند ارقام د ۱۳۸۴ کال د کب د مياشتې د ۲۹مې (د ۲۰۰۶ کال د مارچ د ۲۰مې) نېټې د رپوټ په اساس وړاندې شوي دي، چې وروستي ياد شوي رپوټونه د بل مفتش په واسطه تفتيش شوي دي. د ياد شوي مفتش په رپوټ کې چې د ۲۰۰۶ کال د اکتوبر پر ۱۴مه وړاندې شو د مالي رپوټونو د لاندې برخو په هکله د مسئوليت رفع کول څرګند شوی دی:

- د شتمنيو او پورونو افتتاحي بيلانسونه چې د ۱۳۸۴ کال په پای کې (د ۲۰۰۶ کال د مارچ ۲۰مه) تخمين شوي، په بشپړه توګه مؤثق اوباوري نه دي. له دې امله د ۱۳۸۴ کال د پای په رپوټونو کې د مندرجو ټولو شتمنيو او پورونو موجوديت نشي تاييد کېدلی.
- د بانک د عمومي ليجر دفتر په هراړخيز لحاظ بشپړ نه وه. هغه ارقام يا اطلاعات چې د مالي

رپوټونو د ترتیب لپاره له مختلفو ډيپارټمنټونو او ځانګو څخه راټول شوي په بشپړه توګه د کتبي مدارکو په واسطه تایید او له مراحلو څخه نه دي تېر شوي او د کافي اندازې کنټرولي تدابیرو په نشتوالي کې د ارقامو دقت او صحت نشي تامین کېدلی. له دې امله، کېدای شي چې په راتلونکو کلونو کې په بیلانس شیټونو او پورونو کې د نویو معلوماتو په رڼا کې تعدیل او تطبیق شي.

• د داخلي کنټرول د سیستم د تقویې اړتیا چې له وضعیت سره متناسبه او د بانک له چارو سره مناسبه وي، ملاحظه کېږي څو په مالي رپوټونو کې د بیلانسونو د کافي صحت په هکله اطمینان ترلاسه شي.

• د ۲۰۰۵ کال د مارچ د ۲مې نېټې د تفاهم نامې په اساس د مالیې وزارت او بانک ترمنځ د شتمنیو او پورونو معاوضه ترسره شوه. د تطبیقاتو پروسه روانه ده او د رپوټونو د وړاندې کولو ترنېټې پورې نه وه بشپړه شوې.

• د مرکزي دفتر ځمکه او ودانۍ د بازار په قیمت او مفروشات (موبل) او اثاثیه په اټکلي نغدي قیمت سره سنجش شوي، خو د ولایتي او محلي دفترونو د ځمکې او ودانیو قیمتونه په پام کې نه وه نیول شوي.

• له نړیوال وجهي صندوق، وزارتونو او بانکونو څخه د بیلانسونو د تایید سند نه دی ترلاسه شوی او په نورو بانکونو کې د شتوحسابونو او د ځانګو ترمنځ د حسابونو تطبیق او مقایسه نه وه بشپړه شوې.

• د لاندې مواردو لپاره د احتیاطي لګښتونو تیاری نه وو شوی:

♦ د اړوندو نهادونو د ارزښت کموالی او د ۲۰۰۵ کال د مارچ د ۲مې نېټې د تفاهم نامې په اساس د مالیې وزارت ته د هغه انتقال.

♦ د بانک د کارمندانو د ۲۴۹۹۸ زره افغانیو د اختلاس لپاره.

♦ د محاسبې د نړیوال معیار IAS-19 مطابق د متقاعدینو د حقونو د محاسبې په اساس د تقاعد حقونه.

د بانک له خوا د مالي رپوټونو په ترتیب او وړاندې کولو کې د مالي رپوټ ورکولو د نړیوالو معیارونو د غوښتنو نه ترسره کول.

### د مالي رپوټونو په هکله د بانک د ادارې مسؤلیت

د بانک اداره مسؤلیت لري چې دغه مالي رپوټونه د نړیوالو معیارونو له غوښتنو سره سم ترتیب او په مناسب ډول وړاندې کړي. په دغه مسؤلیت کې لاندې موارد شامل دي: د داخلي کنټرول طرحه کول، تطبیقول او برابرول او په ځانګړي ډول په مناسبه توګه د مالي رپوټونو ترتیب او تقدیم چې ( د تقلب، بې ځای استفادې، غلطی یا تېروتنې) ناسمې څرګندونې ونه لري؛ د مناسبو محاسبوي پالیسیو انتخاب او تطبیق؛ او له شرایطو سره سم د مناسبو محاسبوي تخمیناتو ترسره کول.

### د مفتشینومسؤلیت

زمونږ مسؤلیت دا دی چې د خپل تفتیش په اساس د دغو مالي رپوټونو په هکله نظر ورکړو. په لاندې فقره کې د مندرجو موضوعاتو په پام کې نیولو سره چې " په نظر څرګندولو کې د مسؤلیت د رفع کولو" په هکله ذکر شوي دي، مونږ ونشو کړای چې په کافي اندازه د تفتیش داسې مناسب مدارک ومومو چې د تفتیش د نظر اساس تشکیل کړي.

## په نظر ځرګندولو کې د مسؤلیت په رفع کولو باندې مبني اصل

۱. دغه مالي رپوټونه د هغه ټرایل بیلانس په اساس چې له بېلابېلو فرعي ادارو او دفاترو څخه د لاسته راغلیو محاسبوي ارقامو څخه اقتباس شوي دي، د جامع محاسبوي سیستم او عمومي لیجر په نشتوالي کې ترتیب او وړاندې شوي دي. دغه راټول شوي ارقام د کافي مدارکو او اسنادو په واسطه په بشپړه توګه اثبات او تصدیق شوي نه دي. د مالي معلوماتو د کتنې پر وخت مونږ لاندې موارد ولیدل:

ا. د حسابي معلوماتو د ترتیب په سیستم کې د معاملو د ثبت او تایید لپاره کنټرولي تدابیر نه وو موجود، او که موجود هم وو، د ټول کال په اوږدو کې پرې مرور نه وه شوی.

ب. هغه سیستم چې د حسابي معلوماتو د ترتیب لپاره ترې استفاده کېږي اجازه ورکوي څو د بیلانسونو ثبت د یاداشت (فرعي نقل) په توګه او د مضاعف ثبت د دفترداري د سیستم له پام کې نیولو پرته ترسره شي.

ج. بانک د داخلي سیستم مرور، له اړوندو عملیاتي ډیپارټمنټونو سره د محاسبې د ډیپارټمنټ د بیلانسونو دوره یي تطبیق او تایید نه دی عملي کړی چې د مالي معلوماتو صحت او بشپړتیا تامین کړای شي.

د.هغه ټرایل بیلانس چې د هغه په اساس یاد شوي مالي رپوټونه ترتیب او وړاندې شوي دي له اسنادو او (یاداشت شوي) فرعي ریکارډ سره چې په بانک کې ساتل کېږي، مطابقت نه لري. د هغه مهم توپیرونه په لاندې ډول دي:

| د حساب نوم | د مالي رپوټونو یاداشتونه | بیلانسونه د ۱۳۸۵ کال د کب د میاشتې د ۲۹مې نېټې د ټرایل بیلانس مطابق ډیبیټ/ (کریډیټ) | بیلانسونه د ۱۳۸۵ کال د کب د میاشتې پر ۲۹مه د (یاداشت شویو) فرعي ریکارډونو مطابق ډیبیټ/ (کریډیټ) | توپیرونه |
|---|---|---|---|---|
| | | --------------------------- | ---------------افغاني (000) | ----------------------- |
| طلبات او نور د حصول وړ مبالغ | 7 | 1187537 | 1085706 | 101831 |
| کاپیټال نوټس (د ارزښت وړ سندونه) | 11 | (1179406) | (1130239) | 49167 |
| د بریټانیا د ټریژري بیلونه | 6 | هیڅ | 6561279 | 6561279 |
| د امریکا د قواتونو ټریژري بیلونه | 6 | هیڅ | 4995746 | 4995746 |
| متفرقه کریډیټورونه (سند ري) | 15.2 | (1140599) | (498604) | 641955 |

بانک یاد شوي توپیرونه له منځه نه دي وړي او د توپیرونه دلایل مونږ ته نه دي ښودل شوي.

ه. د مالي رپوټونو ۱۵. ۳ یاداشت د ۱۰۲۳۶۶۶ زره افغانیو مبلغ مشکوک حسابونه ښیي چې د باوري معلوماتو د نشتوالي له امله د بانک په واسطه مقایسه او تطبیق شوي نه دي.

و. د مالي رپوټونو ۹ یاداشت ۱۰۳۹۰۳۴ زره افغاني مبلغ د څانګو (د ۷۴ څانګو د دفترونو) ترمنځ د جاري حسابونو د خالص تفاوت په توګه ښیي چې تطبیق او مقایسه شوي نه دي او په ۱۰۷۵۲۷۵ زره افغانیو د ډیبیټ بیلانس او ۳۶۲۴۱ زره افغانیو د کریډیټ بیلانس باندې شامل دی چې په مالي رپوټونو کې تطبیق او اصلاح شوی نه دی.

ز.د مالي رپوټونو ۸ یاداشت د ۱۳۸۵ کال د کب د میاشتې پر ۲۹مه د ۲۰۲۱۴۵۸ زره افغانیو شتمني او تجهیزات ښیي. بانک د ملکیتونو او شتمنیو فرعي ریکارډونه نه دي ساتلي. سربېره پر دې، د شتمنی او تجهیزاتو فزیکي موجودي نه ده ترسره شوې او په مالي رپوټونو کې مندرج د ځمکې د ملکیت اسناد مونږ ته نه دي راښودل شوي. له دې امله، مونږ ونشو کړای چې د شتمنی او تجهیزاتو د مندرجاتو د صحت په هکله او دا چې بانک د ځمکې د ملکیت سند په خپل نامه لري، خپل قناعت حاصل کړو.

ح. مونږ ته د بریتانیا د ټریژري د ۶۵۶۱۲۷۹ زره افغانیو د بلونو او د امریکا د متحده ایالتونو د ټریژري د ۴۹۹۵۷۴۶ زره افغانیو د بلونو د پېرودنې او پلورنې په هکله مناسب او باوري معلومات او ریکارډونه نه دي راښودل شوي. سربېره پر دې، په ټرا یل بیلانس کې د یادو شویو سندونو د نه درجولو علت مونږ ته نه دی راپه ګوته شوی.

ط. لاندې تعدیلات چې ټول ۳۱۴۹۸۹ زره افغاني کېږي د تېرو کالونو په اساس شوي دي، له دې امله، په دې مالي رپوټونو کې مندرج اړوند بیلانسونه بیا څرګند شوي دي.

| د حساب نوم | په مالي رپوټونو کې د یاداشت لمبر | بیلانسونه د ۱۳۸۴ کال د کب د میاشتې پر ۲۹مه د تفتیش شویو مالي رپوټونو په اساس ډیبیټ/(کریډیټ) | د ۱۳۸۴ کال د کب د میاشتې د ۲۹مې نېټې د بیلانسونو بیا څرګندونه چې د ۱۳۸۵ کال د کب د میاشتې د ۲۹مې نېټې په مالي رپوټونو کې درج شوي دي. ډیبیټ/(کریډیټ) | توپیرونه |
|---|---|---|---|---|
| | | (000) افغانی | | |
| له بانکونو او مالي موسساتو څخه حصول وړ | 5 | 45821663 | 37886748 | (7934915) |
| طلبات او نور د حصول وړ مبالغ | 7 | 121940 | 127310 | 5370 |
| نورې شتمنی | 9 | 8061400 | 17413600 | 9352200 |
| پروېژن او نور پورونه | 15 | (2249977) | (2819036) | (569059) |
| پانګه | 21 | (4915472) | (1489653) | 3425810 |
| عمومي ذخیره | | (3541177) | صفر | 3541177 |
| د ځانګړې ذخیرې وجه | | (965965) | صفر | 965965 |
| د بیا ارزولو ذخیره | | صفر | (15883159) | (15883159) |
| متراکم زیانونه | | صفر | 7418791 | 7418791 |
| مجموعه | | 42332412 | 42647401 | 314989 |

د یادو شویو تعدیلاتو د علت او د هغو د سنجونې د څرنګوالي په هکله مونږ ته مناسب دلایل او مدارک نه دي راپه ګوته شوي.

په پورته ډول د بانک د ریکارډونو د څرنګوالي په پام کې نیولو سره مونږ نشو کولی تصدیق کړو چې آیا د ۱۳۸۵ کال د کب د میاشتې د ۲۹مې نېټې شتمنی او پورونه او د کال د پای د ګټې او تاوان صورت حسابونه له تېروتنو څخه پاک دي .

۲.لکه چې د مالي رپوټونو په ۲۰ یاداشت کې ذکر شوي دي، د بانک او د افغانستان دولت د مالیې د وزارت ترمنځ د ۲۰۰۵ کال د مارچ د ۲مې نېټې دتفاهم نامې په اساس، په دولتي ارګانونو کې د بانک د پانګونې په شمول ځینې شتمنی او پورونه د بانک او د مالیې د وزارت تر منځ معاوضه شوي دي. له دې امله، په تفاهم نامې کې شامل ځینې نورې شتمنی او پورونه د هغه تر لاسلیک کېدلو وروسته موندل شوي دي. د بانک اداري د بانک له اصلي ریکارډونو سره د یادو شویو اقلامو مقایسه پیل کړې ده چې تر اوسه پورې روانه ده. بنایي د یادې شوې پروسې په پای کې په مالي رپوټونو کې تعدیلات لازم وګڼل شي. په دې ترتیب، مونږ نشو کولی قناعت حاصل کړو چې آیا شتمنی او پورونه او د بانک خالصه شتمني د ۱۳۸۵ کال د کب د میاشتې پر ۲۹مه (د ۲۰۰۷ کال د مارچ پر ۲۰مه) نېټه په صحیح توګه څرګنده شوې ده که نه.

۳. د ۱۳۸۵ کال د کب د میاشتې د ۲۹مې نېټې له بیلانسونو څخه د تر لاسه شویو معلوماتو په اساس چې د بانک په اداره کې موجود دي، مونږ د حسابونو د بیلانسونو د تایید لپاره ۴۲ متحدالمال مکتوبونه بانکونو او مالي موسسو ته لېږلي دي. د دغو متحدالمال مکتوبونو نتیجه په لاندې ډول ده:

- مونږ په لاندې مواردو کې د هغوی د خپلواک تایید سند نه دی تر لاسه کړی:

| | |
|---|---|
| د موسسې نوم | د ۱۳۸۵ کال د کب د میاشتې د ۲۹مې بیلانسونه |
| | ډیبیټ/ (کریډیټ) |
| نړیوال وجهي صندوق | (32049) |
| ۲ تاییدي سندونه له بانکونو اومالي موسسوڅخه | 2515229 |
| ۷ تاییدي سندونه له وزارتونو او دولتي ادارو څخه د نورو پورونو په هکله | (4426644) |
| ۱۰ تاییدي سندونه له افرادو، سوداګریزو موسسو او وزارتونو څخه د پېشکیو او طلباتو په هکله | 238102 |

۱۷• ترلاسه شوي تاییدي مکتوبونه له هغو بیلانسونو سره چې په مالي رپوټونو کې لیدل کیږي، مطابقت نه لري. د هغو تفاوتونه په لاندې ډول دي:

| د موسسې نوم | بیلانسونه د دفترونو په اساس<br>ډیبیټ/(کریډیټ) | بیلانسونه د ترلاسه شویو<br>تصدیقونو په اساس<br>ډیبیټ/(کریډیټ) | توپیرونه<br>کسر/ (فاضل)<br>ډیبیټ/ (کریدټ) |
|---|---|---|---|
| | ------------------------------ افغانی (000) ------------------------------ | | |
| افغان نیشنل کریډیټ - لندن | 219641 | 219910 | (269) |
| بانک اف انگلیند – لندن | 4992445 | 8414617 | (3422172) |
| سیتي بانک - نیویارک | 3864358 | 3530206 | 334152 |
| کامرز بانک - فرانکفورټ | 19703740 | 10857995 | 8845745 |
| کراون اجنټ – لندن | (2396665( | 126675 | (2523340) |
| سټیټ بانک آف انډیا - لندن | 5362135 | 7090353 | (1728218 ) |
| بانک الفلاح لمیټډ - پشاور | 335111 | 352706 | (17595) |
| بینک آف امریکا – نیویارک | 67185 | 1529892 | (1462707) |
| دویچ بینک - فرانکفورټ | 15776214 | 11932256 | 3852958 |
| دویچ بینک – (د لنډمهاله یا منځمهاله قرضې لپاره د خزاینو سند) | 15581666 | 26368533 | (10786867) |
| دویچ بونډز بانک – فرانکفورت | 21611 | 75190 | (53579) |
| فیدرال ریزرف بانک آف نیویارک | 656332 | 674105 | (17773) |
| فرسټ گلف بانک – ابو ظبی | 319983 | 321480 | (1497) |
| حبیب بانک لمیتد - پشاور | 198375 | 239502 | (41127) |
| ایچ ایس بی سی – لندن | 41777 | صفر | (41777) |
| رایل بانک آف سکاتلند - لندن | 4861608 | 4827308 | 34300 |
| سټنډرډ چارټرډ بانک - لندن | 4244891 | 2606373 | 16308518 |
| ونیشی کانوم بانک - مسکو | 201 | 29888773 | (29888572) |

مونږ خبر شوي یو چې د بانک له ریکارډونو سره د تایید شویو بیلانسونو تطبیق او مقایسه د تطبیق او مقایسې د پروسې د وروسته پاتې والي له امله له ۱۳۸۳ کال څخه تر ۱۳۸۵ کال پورې نه ده ترسره شوې.

لکه چې پورته په (۱) فقره کې ذکر شول، د بانک د ریکارډونو د څرنګوالي، د تاییدي سندونو د نه ترلاسه کولو او په تایید شویو بیلانسونو کې د تفاوتونو د موجودیت له امله مونږ نشو کولی تصدیق کړو چې آیا د ۱۳۸۵ کال د کب د میاشتې د ۲۹مې بیلانسونه چې په مالي رپوټ کې ذکر شوي دي، په صحیح توګه ښودل شوي دي.

۴. مونږ د لاندې مواردو محاسبه چې د بانک د ادارې په واسطه ترسره شوې ده، مشاهده نه کړه:

- نغدې پیسې په خارجي اسعارو چې مبلغ یې ۳۸۳۲۲۵۸ زره افغانۍ ښودل شوې دي.
- د ۲۰۰۷ کال د مارچ پر ۲۰مه د بانک په خزانه کې موجودې په دوران کې نه راغلې پیسې او په دوران کې له موجودو پیسو سره د هغو تطبیق او مقایسه چې د ۲۰۰۷ کال د مارچ پر۲۰مه ۵۰۳۲۸۸۹۴ زره افغانیو ته رسیږي.
- د طلا ذخیرې چې د جمهوري ریاست په ماڼۍ (د ارګ خزانه) کې ساتل شوې دي او ارزښت یې د ۲۰۰۷ کال د مارچ پر ۲۰مه ۸۰۶۱۴۰۰ زره افغانۍ تعیین شوی دی.

دا چې مونږ د بانک د مالي کال تر پای ته رسېدلو وروسته د مفتش په توګه توظیف شوي یو، په لومړۍ فقره کې د یادو شویو دلایلو په اساس مونږ په داسې موقف کې نه وو چې وکړای شو د نورو د تفتیش د پروسیجر له لارې قناعت حاصل کړو چې آیا په خارجي اسعارو د نغدو پیسو بیلانسونه، په دوران کې داخل پیسې او د بانک په خزانه کې موجودې د طلا ذخیرې په صحیح توګه ذکرشوي دي.

۵. بانک، لکه چې د محاسبې ۳۶ نړیوال معیار (IAS – 36) "د شتمنیو زیانمنېدل" او د محاسبې ۳۹ نړیوال معیار ( IAS – 39) مالي سندونه: د مالي سندونو پېژندل او سنجول" یې غوښتنه کوي، په ترتیب سره د غیرمالي او مالي شتمنیو د زیانمتیا ازموینه نه ده کړې. له دې امله، مونږ په داسې یو موقف کې نه وو چې وکړای شو قناعت حاصل کړو چې د بانک د غیرمالي او مالي شتمنیو بیلانسونه د حصول وړ مبلغ او یا د هغه د مناسب ارزښت په نسبت د ۱۳۸۵ کال د کب د میاشتې پر ۲۹مه زیاتې نه دي ښودل شوي.

۶. طلبات او نور حصول وړ (۷ګڼه یاداشت) ۳۳۵۰۰۰ زره افغانۍ جوړوي ښیي چې په تېرو کلونو کې په بانک کې له موجودو نغدو پیسو څخه ناوړه استفاده شوې ده. د یادو شویو طلباتو ریکارډ شوی ارزښت کم شوی نه دی ځکه چې بانک قانوني رسیدګي پیل کړې ده. مونږ ته د یادو قضایاوو د ممکنو نتایجو د فعلي وضعیت او د بانک د حقوقي مشاورینو د نظر په هکله معلومات نه دي راکړل شوي. له دې امله، مونږ په داسې یو موقف کې نه وو چې وکړای شو قناعت حاصل کړو چې یاد شوي طلبات د هغه د حصول وړ مبلغ په نسبت د ۱۳۸۵ کال د کب د میاشتې پر ۲۹مه ډېرنه دي ښودل شوي.

۷. مشتریانو ته د تادیې وړمبالغ (۱۳ګڼه یاداشت) په غیرفعالو حسابونو کې دي چې ۵۰۸۵۶ زره افغانۍ لري.

دغه حسابونه د ځانګې له پاتې بیلانسونو څخه دي.
د معلوماتو د نشتوالي له امله، بانک داسې اقدام نه دی کړی چې معلوم کړي چې آیا د حسابونو لرونکو ته د یادو شویو بیلانسونو تادیه لازمه ده که نه. سربېره پر دې، د کال په اوږدو کې ۱۵۵۲۸۷ زره افغانۍ له غیرفعالوحسابونو څخه د دې پرځای چې د محاسبې د IAS-39 ګڼې نړیوال معیارمطابق د عوایدو صورت حساب ته انتقال شي، مستقیما خالصې شتمنۍ ته انتقال شوې دي. مونږ ته هیڅ ډول دلایل ونه ښودل شول چې یاد شوی مبلغ د کوم علت له مخې د عوایدو د رپوټ پرځای خالصې شتمنۍ ته انتقال شوی دی.

۸. د کال په بهیر کې د ځمکې او تعمیراتو ارزونه د یوه خپلواک ارزونکي له خوا ترسره شوې ده. په دغه ارزونه کې عادي او سرمایوي دواړه ډوله جایدادونه شامل دي. د ثابتې شتمنۍ د فرعي ریکارډونو د نه موجودیت له امله د بانک اداره نشي کولی چې عادي جایدادونه له سرمایوي جایدادونو څخه تفکیک کړي. په نتیجه کې، خالصه ترلاسه شوې ګټه د خالصې شتمنۍ په توګه درج او ثبت شوې ده. د سرمایوي جایدادونو په هکله د بانک د محاسبې پالیسي تصریح کوي چې ګټه او تاوان د یادو شویو جایدادونو د بیاارزونې په اساس د عوایدو د رپوټ له لارې وړاندې کیږي. سربېره پر دې، د هغو ارقامو په منځ کې چې د ارزونکي په واسطه کارول کیږي او هغه ارقام چې د بانک له خوا ساتل شوي دي د ملاحظې وړ تفاوتونه وجود لري. په نتیجه کې، مونږ ونشو کړای قناعت حاصل کړو چې د ۱۹۶۰۴۶۸ زره افغانیو مبلغ د ځمکې او تعمیراتو له لارې او د هغه په بیا ارزونه کې د ۳۶۹۴۹۰ زره افغانیو ډېرښت په صحیح توګه په مالي رپوټونو کې ښودل شوی دی که نه.

۹. بانک لاندې معلومات او څرګندونې د مالي رپوټ ورکولو د نړیوالو معیارونو په اساس وړاندې نه کړل:

• بانک د لومړي ځل لپاره د مالي رپوټ ورکولو نړیوال معیارونه تطبیق کړي دي. له دې امله، بانک مکلف دی چې د یادو شویو نړیوالو معیارونو افتتاحي بیلانس شیټ د هغو اغېزو د ښودلو لپاره چې د یادو شویو معیارونو د رعایت په لومړۍ مرحله کې پر شتمنیو او پورونو باندې راځي او په لومړي معیارکې د "لومړي ځل لپاره منلو" تر عنوان لاندې بیان شوې دي، خپور کړي، خو یاد شوی بیلانس شیټ په دغو مالي رپوټونو کې نه دی څرګند شوی.

• د نغدي پیسو د جریان رپوټ چې د مالي رپوټونو د مجموعې یوه بشپړونکې برخه ده د محاسبې د لومړۍ ګڼې نړیوال معیار "IAS-1"له غوښتنو سره سم د "مالي رپوټونو وړاندې کول" تر عنوان لاندې په مالي رپوټونو کې نه دی شامل شوی.

• د محاسبې د ۱۹مې ګڼې نړیوال معیار-IAS 19" په اساس (د کارمندانو د حقونو) تر عنوان لاندې، د تعهداتو د فعلي ارزښت په هکله د ځینې معلوماتو افشا کول، په بیلانس شیټ کې د مندرجو خالصو شتمنیو او پورونو تغییرات، د یوه کال لګښتونه، <u>مهمې احصایوي فرضیې</u> او داسې نور د نوې ارزونې لپاره لازم دي، خو یاد شوي موضوعات په دغو مالي رپوټونو کې نه دي افشاء شوي. سربېره پر دې، د پخوانیو کلونو د تقاعد د حقونو اړوند پوروونه لکه چې د محاسبې په ۸ ګڼه نړیوال معیار (IAS-8) د " محاسبې پالیسی، د محاسبې په تخمیناتو او تېروتنو

کې تغييرات" کې لازم دی، په دغو صورت حسابونو کې نه دي ښودل شوي.

• هغه څرګندونې چې د محاسبې د ۲۴ نړيوال معيار (IAS-24)په اساس د " اړوند طرف څرګندونې" ترعنوان لاندې لازمې دي، په دغو مالي رپوټونو کې نه دي شوي.

• د محاسبې د ۳۲ نړيوال معيار((IAS-32 "مالي سندونه: څرګندول او وړاندې کول" د مالي سندونو د پوخوالي (maturity) د شرحې او د موسسې عملياتي او مالي معاملاتو پورې د تړلو خطرونو او د موسسې د ادارې له خوا د هغو د تخفيف په هکله د ځانګړو څرګندونو غوښتنه کوي. دغه څرګندونې په مالي رپوټونو کې نه دي وړاندې شوي.

• لکه چې پورته په لومړۍ فقره کې توضيح شوه، بانک د معلوماتو د نشتوالي او د حسابي دفترونو د نامناسبې ساتنې له امله نه دی توانېدلی چې خپلې مشروطې شتمنۍ او پورونه او تعهدات لکه ليټر آف کريډيټ او ليټر آف ګرنټي چې د دولت او نورو مراجعو په استازيتوب صادر شوي دي، د کال په پای کې وسنجوي. له دې امله، ياد شوي موضوعات لکه چې د محاسبې د ۳۷ نړيوال معيار (IAS-37)په اساس د "پرويژنونو، احتمالي پورونو او احتمالي شتمنۍ" تر عنوان لاندې لازم دي، په دغو مالي رپوټونو کې نه دي څرګند شوي.

• لکه چې پورته په ۸ فقره کې ذکر شو، ځينې څرګندونې لکه د بيا ارزونې نېټه، د اقلامو د مناسبو ارزښتونو په اټکلولو کې کارول شوي ميتودونه او مهمې فرضيې، د مصارفو تر موډل لاندې انتقال شوي د انتقال وړثبت شوی مبلغ او داسې نور چې د محاسبې ۱۶ نړيوال معيار " (IAS-16)شتمنې: کارخانه جات اوتجهيزات" يې غوښتنه کوي او د سرمايوي جايدادونو د ډلبندۍ په هکله د معلوماتو څرګندول، د سرمايوي جايدادونو د مناسب ارزښت د تعيينولو لپاره ميتودونه او فرضيې، د سرمايوي جايدادونو په برخه کې د بيا ارزونې له اصلاحاتو څخه تر لاسه شوې ګټه/تاوان لکه چې د محاسبې ۴۰ نړيوال معيار" (IAS-40)سرمايوي جايدادونه" يې غوښتنه کوي، په دغو مالي شرحو کې نه دي ذکر شوي.

د پورتنيو مواردو په پام کې نيولو سره، مالي رپوټونه د مالي رپوټ ورکولو د نړيوال چوکاټ د وضع شويو شرايطو په اساس نه دي ښودل شوي.

## په نظر څرګندولو کې د مسؤليت رفع کول

" د نظر په څرګندولو کې د مسؤليت د رفع کولو په بنسټ" او د موضوع د اهميت په اساس مونږ ونشو کړای د تفتيش اړوند داسې کافي او مناسب مدارک چې د تفتيش د نظريې اساس تشکيل کړای شي، ترلاسه کړو. له دې امله، مونږ د ۱۳۸۵ کال د کب د مياشتې د ۲۹مې (د ۲۰۰۷ کال د مارچ د ۲۰مې) نېټې د مالي رپوټونو په هکله نظر نه څرګندوو.

کی پی ایم جی افغانستان لميټډ

د فبروري ۶مه، ۲۰۰۸

کابل

## دافغانستان بانک

## بیلانس شیټ

## د ۱۳۸۵کال د کب د میاشتې ۲۹مه (د ۲۰۰۷کال د مارچ ۲۰مه)

| | یادداشت | 1385 ("000" افغانی) | 1384 ("000" افغانی) نوې شرحه |
|---|---|---|---|
| **شتمنی** | | | |
| د طلا ذخیرې | 4 | 23217290 | 19511308 |
| موجودې نغدې پیسې – خارجي اسعار | | 3832258 | 3269118 |
| په بانکونو او مالي موسساتو باندې موجود طلب | 5 | 65905716 | 37886748 |
| د بیلونو ټریژري | 6 | 15697557 | 16148126 |
| طلبات او نور د حصول وړ | 7 | 10003386 | 127310 |
| جایدادونه اوتجهیزات | 8 | 2021458 | 1603352 |
| نورې شتمنی | 9 | 9100434 | 17413600 |
| **د شتمنیو مجموعه** | | 120778099 | 95959562 |
| **پورونه او د پانګې سهمیه(اکویتی)** | | | |
| **پورونه** | | | |
| په دوران کې موجودې پیسې | 10 | 50328894 | 44106036 |
| کاپیټال نوټ ( ارزښتناک اسناد) | 11 | 1179406 | 380000 |
| د بانکونوامانتونه په افغانیو | 12 | 1539571 | 0 |
| د مشتریانو طلبونه | 13 | 41363316 | 38374578 |
| د نړیوال وجهي صندوق اړوند پورونه | 14 | 32049 | 3480 |
| د متقاعدینو د تقاعد حقوق | | 341674 | 315210 |
| پرویژنونه او نورپورونه | 15 | 5975255 | 2819036 |
| **د پورونومجموعه** | | 100760165 | 85998340 |
| **د سرمایې سهمیه (اېکویتی)** | | | |
| پانګه | 21 | 1496853 | 1496853 |
| د بیا ارزولو ریزرف | 21 | 19890259 | 15883159 |
| متراکم تاوانونه | 21 | (1369179) | (7418790) |
| د سرمایې د سهمې مجموعه (اېکویتی) | | 20017934 | 9961222 |
| **د خالصو پورونو او شتمنیو مجموعه** | | 120778099 | 95959562 |

له ۱ څخه تر ۲۲ پورې مل یاداشتونه د دغو مالي رپوټونو اساسي برخه جوړوي.

| مسعودخان موسی غازی | سمیع الله ابراهیمی | عبدالقدیرفطرت |
|---|---|---|
| عمومی مالی آمر | دافغانستان بانک لومړی مرستیال | دافغانستان بانک عمومي رییس |

## د افغانستان بانک

## د عوایدو شرحه

## د ۱۳۸۵کال د کب د میاشتې ۲۹مه (د ۲۰۰۷کال د مارچ ۲۰مه)

| | یاداشت | 1385 ("000" افغانی) | 1384 ("000" افغانی) |
|---|---|---|---|
| د ټکټاني عاید | 16 | 3506315 | 1927469 |
| د ټکټاني لګښت | | (81396) | (18315) |
| **د ټکټاني خالص عاید** | | 3424919 | 1909154 |
| د فیس او کمېشن عاید | | 146992 | 179597 |
| د فیس او کمېشن لګښت | | (2544) | (3670) |
| **د فیس او کمېشن خالص عاید** | | 144448 | 175927 |
| د خارجي اسعارو د تبادلې ګټه/ (تاوان) | | 3363658 | (215943) |
| نورعواید | 17 | 49952 | 49613 |
| | | 3413610 | 166330 |
| معاشات او نورحقوق | 18 | (216041) | (212805) |
| د بانکنوټونو د چاپ لګښت | | (1074238) | (534332) |
| عمومي او اداري لګښتونه | 19 | (289474) | (85156) |
| استهلاک | 8 | (26032) | (25053) |
| | | (1605786) | (857346) |
| **د کال خالص عاید** | | 5377191 | 1061405 |

له ۱ څخه تر ۲۲ پورې مل یاداشتونه د دغو مالي رپوټونو اساسي برخه جوړوي.

| مسعودخان موسی غازی | سمیع الله ابراهیمی | عبدالقدیرفطرت |
|---|---|---|
| عمومی مالی آمر | دافغانستان بانک لومړی مرستیال | دافغانستان بانک عمومي رییس |

# د افغانستان بانک

## د سرمايې په سهم کې د تغييراتو شرحه

د ۱۳۸۵کال د کب د مياشتې ۲۹مه (د ۲۰۰۷کال د مارچ ۲۰مه)

| | يادداشت | سرمايه | د بيا ارزونې ذخيره | متراکم زيانونه | مجموعه |
|---|---|---|---|---|---|
| | | | ("000" افغانی) | | |
| د ۱۳۸۴ کال د حمل پر۱ بيا شرحه شوی بيلانس | 21 | 1496853 | 1171934<br>2 | (8324909) | 4891286 |
| خالصه گټه | | - | - | 1061405 | 1061405 |
| انتقال شوي غيرفعال (راکد) حسابونه | | - | - | (155287) | (155287) |
| د تصفيه شوي طلا بيا ارزونه | 21 | - | 4163817 | - | 4163817 |
| د ۱۳۸۵ کال د حمل د ۱ بيلانس | | **1496853** | **1588315<br>9** | (7418790) | 9961222 |
| خالصه گټه | | - | - | 5377191 | 5377191 |
| د شتمنيو او پورونو د تفاوت اصلاح | 21 | - | - | 672420 | 672420 |
| د پولي طلا بيا ارزونه | | - | 3637610 | - | 3637610 |
| د ځمکې او تعميراتو بيا ارزونه | 21 | - | 369490 | - | 369490 |
| د ۱۳۸۵ کال د کب د مياشتې د ۲۹مې بيلانس | | 1496853 | 1989025<br>9 | (1369179) | 20017934 |

له ۱ څخه تر ۲۲ پورې مل ياداشتونه د دغو مالي رپوټونو اساسي برخه جوړوي.

مسعودخان موسی غازی
عمومی مالی آمر

سميع الله ابراهيمی
دافغانستان بانک لومړی مرستيال

عبدالقديرفطرت
دافغانستان بانک عمومي رييس

## د افغانستان بانک

## د ۱۳۸۵ کال د حوت د ۲۹ مې د مالي صورت حسابونو په هکله یادښت

### ۱. د افغانستان بانک د عملیاتو موقف او څرنګوالی

د افغانستان بانک ( چې تر دې وروسته په دې متن کې د بانک په نامه یادېږي) د ۱۳۱۱ کال د اساسي قانون (د دولت د اساسي اصولو) په اساس په ۱۳۱۸ لمریز کال کې تاسیس شو. د بانک فعالیتونه د افغانستان دولت د مالیې د وزارت له خوا څارل کېدې. وروسته د افغانستان د اسلامي انتقالي دولت په دوره کې د افغانستان د اسلامي جمهوریت د افغانستان بانک قانون د ۱۳۸۲ کال د سنبلې پر ۲۷مه توشیح شو، او نوموړی بانک یو ځل بیا د یوه خپلواک حکمي شخصیت په توګه په کابل کې له خپل مرکزي دفتر سره، تاسیس شو. یاد شوی نوی قانون او د بانک په حکمي شخصیت کې بدلون د ۱۳۸۲ کال په جدي کې د افغانستان د اسلامي جمهوریت د اساسي قانون په دولسمه ماده کې د تعدیل په اساس تصویب شو. د افغانستان بانک په هېواد کې دننه ۷۴ فرعي دفترونه لري.

د افغانستان بانک د قانون په اساس، یاد شوی بانک، د افغانستان مرکزي بانک دی. د افغانستان بانک عمده هدف د داخلي قیمتونو د ثبات تامین او ساتنه ده. د افغانستان بانک نور هدفونه د سیالیت ساتنه، د پورونو د تادیې ورتیا او د بازار په اقتصاد باندې د ولاړ مالي سیستم مؤثر فعالیت دی. همدارنګه، د افغانستان بانک پولي سیاست په پولي اساس او د ذخایرو د ادارې په واسطه اجراء کوي او د بانکدار، مشاور او د دولت د مالي استازي په توګه دنده ترسره کوي.

### ۲. د مالي صورت حساب د ترتیب اساس

#### أ. د قوانینو او معیارونو رعایت

د افغانستان بانک مالي صورت حسابونه د افغانستان بانک د قانون د حکمونو او د محاسبې او مالي راپور ورکولو د نړیوالو معیارونو په پام کې نیولو سره ترتیب شوي دي، په داسې حال کې چې د افغانستان بانک د قانون حکمونه د مالي راپور ورکولو له نړیوالو معیارونو سره مغایرت لري. د قانون حکمونه د مرجع په توګه پېژندل کېږي.

یاد شوي مالي صورت حسابونه د ۱۳۸۶ کال د دلوې د ۱۴مې نېټې په مجلس کې د عالي شورا له خوا تصویب شول.

#### ب. د سنجولو اساس

پورتني مالي صورت حسابونه د تاریخي قیمت په اساس ترتیب شوي دي، مګر دا چې د صورت حسابونو په متن کې په کوم بل ډول څرګند شوي وي.

#### ج.رسمي پولي واحد او د صورت حسابونو ښودل

مالي صورت حسابونه د افغانی پولي واحد په اساس ښودل شوي دي چې د بانک رسمي پولي واحد دی. ټول مالي معلومات چې په افغانی وړاندې شوي دي د زرونو افغانیو تر ټولو نژدې رقم ته ورګرځول (راونډ آف) شوي دي.

### د. له تخمينونو او برآوردونو څخه استفاده

د مالي صورت حسابونو د ترتیب لپاره لازمه ده چې د بانک اداره داسې تخمينات، برآوردونه او تصورات ترسره کړي چې د حسابداری د سیاستونو په اجراء کولو او د شتمنی، پورونو، عوایدو او لګښتونو په راپور ورکړای شویو مبالغو باندې تاثیر وکړي. کېدای شي چې واقعي پایلې له یادو شویو تخمیناتو سره تفاوت ولري.

د هغه په اساسي تخميناتو او فرضيو باندې په دوامداره توګه بیاکتنه کېږي. په هغه دوره کې په حسابي تخميناتو باندې بیاکتنه چې دغه بیاکتنه ترسره شي او ورپسې دورې د هغه تر تاثير لاندې، په محاسبه کې شامل او په پام کې ونیول شي.
په ځانګړې توګه، د محاسبې د پالیسیو د تعمیل د اړوندو تخميناتو، احتمالاتو او برآوردونو د مهمو اړخونو په هکله معلومات چې اغیزې یې په مالي صورت حسابونو کې پر مندرجو مبالغو ډیرې د ملاحظې وړ وي، په لاندې ډول په ۳ یادښت کې وړاندې شوې دي.

### ۳. د محاسبې مهمې پالیسی

لاندې مندرجې محاسبوي پالیسی په ورته ډول د دغو مالي صورت حسابونو په ټولو شاملو دورو کې تطبیق شوې دي.

#### ا. د خارجي اسعارو معاملې

د خارجي اسعارو معاملې د بانک په رسمي پولي واحد د یادو شویو معاملو د اجراء د نیټو د تبادلې د نرخ په اساس تسعیر او بیانیږي. غیرپولي شتمنی او پورونه چې ارزښت یې د خارجي اسعارو په اساس بیان شوی وي د راپور ورکولو په نیټه د اړوندې نیټې د تبادلې د نرخ په اساس د بانک په رسمي پولي واحد باندې تبدیلیږي.

په مهمو اسعارو باندې د افغانی د تبادلې نرخ په لاندې ډول دی:

| | ۱۳۸۵ | ۱۳۸۴ |
|---|---|---|
| امریکایي ډالر | 50.115 | 49.935 |
| یورو | 66.415 | 60.433 |
| سټرلینګ پونډ | 96.890 | 86.952 |
| پاکستانی کلداره | 00.825 | 00.823 |

د خارجي اسعارو له تبادلې څخه رامنځته شوي تفاوتونه د ګټې یا تاوان په توګه پېژندل کیږي، په استثناء د هغو تفاوتونو چې د ارزښتناکو سندونو له تبادلې څخه، چې د پلورلو لپاره تیار او په خالصه شتمنی کې شامل وي، رامنځته کیږي.

### ب. غیرمشتق مالي سندونه

د بانک په غیرمشتقو شتمنیو او مالي سندونو کې د طلا ذخیره، نغدې پیسې، پورونه او نور مطالبات، له نورو بانکونو او مالي موسسو څخه د حصول وړ مبلغونه، د خزاینو په دوران کې داخل پیسې، د داخلي بانکونو امانتونه، د سرمایوي پورونوسندونه، په بانک باندې د مشتریانو طلبونه، د نړیوال وجهي صندوق امانتونه او نور پورونه شامل دي.
غیرمشتق مالي سندونه په پیل کې د هغه د مناسب ارزښت (د بازار د ارزښت) په اساس وړاندې کیږي. د هغو سندونو په برخه کې چې د ګټې یا تاوان په اساس د هغه ارزښت تفاوت لري، مستقیم معاملاتي لګښتونه هم پرې وراضافه کیږي، مګر دا چې لاندې

په کومه بله بڼه درج شوي وي. غیرمشتق مالي سندونه د هغو تر لومړنی محاسبې وروسته د لاندې توضیحاتو په اساس سنجول کیږي.

مالي سند په هغه صورت کې په محاسبه کې شاملیږي چې بانک د هغه د قرارداد د شرایطو په اساس د یوه طرف حیثیت ترلاسه کړي. مالي شتمنی هغه وخت له محاسبې څخه پاتې کیږي چې د بانک حقونه د نغدي جریان په هکله د قرارداد د شرایطو په اساس له یادو شویو شتمنیو څخه منقضي شي او یا دا چې بانک، پرته له دې چې د مالي شتمنی رسکونه یا ګټې او تاوانونه له ځان سره وساتي، هغه کوم بل شخص ته منتقله کړي. د مالي شتمنی عادي پېرودل او پلورل د هغه د معاملې د نېټې په اساس محاسبه کیږي یعنې هغه نېټه چې بانک د هغه پلورلو یا پېرودلو ته ژمن وګرځي. مالي پورونه هغه وخت له محاسبې څخه پاتې کیږي چې د بانک ژمنې قرارداد مات کړي او یا دا چې اجراء یا فسخه شي.

## ج.هغه پانګه اچونه چې د سررسید تر نېټې پورې دوام کوي:

که چېرې بانک داسې مثبت او قوي تصمیم ولري چې د قرضې ارزښتناک سندونه د هغه د ټاکلې مودې تر رارسېدلو پورې وساتي، په دې صورت کې یاد شوي سندونه د " سررسید ترنېټې پورې ساتل شوي سندونه" په توګه تصنیف کیږي. دغه ډول پانګه اچونې داسې محاسبه کیږي چې قیمت یې د واقعي ټکټانې د میتود په کارولو سره د استهلاکي اقساطو په ډول تعیینیږي او د هغه د ارزښت له کمېدلو څخه رامنځته کېدونکي تاوانونه ترې وضع کیږي.

## د. د پلورلو لپاره تیاره مالي شتمني:

په ارزښتناکو سندونو د بانک پانګه اچونه د هغه تر لومړنی ارایې وروسته د مالي شتمنی په توګه د تصنیف پلورلو ته تیاریږي او د مناسب ارزښت (د بازار ارزښت) او د هغه د تغییراتو په اساس سنجول کیږي (په استثناء د هغو تغییراتو چې د ارزښت له کمي څخه رامنځته کیږي او معلومات یې د ۳ ګڼې یاداشت په هـ برخه کې وجود لري) او د پلورلو لپاره د تیارو پولي اقلامو اسعاري ګټه او تاوان نېغ په نېغه د خالصې شتمنی په توګه وړاندې کیږي (د ۳ ګڼې یاداشت هـ برخه دې ولیدل شي). کله چې له پانګې اچونې څخه انصراف کیږي د شتمنی خالصه ګټه یا تاوان د عوایدو صورت حساب (د ګټې او تاوان صورت حساب) ته منتقل کیږي.

## د بازار د ارزښت په اساس د ګټې یا تاوان له لارې پانګه اچونه:

مالي سند هغه وخت د دغه ډول پانګې اچونې په توګه ډلبندي کیږي چې د تبادلې لپاره ساتل شوی وي او یا هم دا چې تر لومړي ځل وړاندې کولو وروسته د تبادلې لپاره ځانګړی شي. مالي سندونه هغه وخت د ګټې یا تاوان له لارې د مناسب ارزښت لرونکي پېژندل کیږي چې بانک دغه ډول پانګه اچونه اداره کړي او د مناسب ارزښت په اساس په پېرودلو او پلورلو باندې ولاړتصمیمونه ونیسي. په مقدماتي توګه د دغه ډول سندونو تر وړاندې کولو وروسته اړوند معاملاتي لګښتونه د هغه د پېښېدلو پر وخت د عوایدو په صورت حساب کې درج کیږي. یاد شوي مالي سندونه د هغـو د بـازار د ارزښـت په

اساس محاسبه کېږي او د ارزښت تغییرات یې د عوایدو په صورت حساب کې درج کېږي.

*نور مالي سندونه:*

نورغیر مشتق مالي سندونه داسې محاسبه کېږي چې قیمت یې د واقعي ګټاني د میتود د کارولو له لارې د استهلاکي اقساطو په ډول تعیینېږي، او د ارزښت د کمېدلو مجموعي لګښتونه ترې وضع کېږي.

## ج. املاک او تجهیزات

### ارایه او سنجول

له ځمکې پرته د بانک ترمطلق ملکیت لاندې اقلام او تجهیزات چې د استفادې دوره یې غیرمحدوده ګڼل کېږي، د هغو د تمام شوي قیمت په اساس او د استهلاک د اندازې او د رامنځته شویو زیانونو له امله په مجموعي ارزښت کې د راغلې کمې په وضع کولو سره محاسبه کېږي.
تمام شوی قیمت په هغو لګښتونو باندې مشتمل دی چې نېغ په نېغه د شتمنۍ تملک پورې اړه ولري.
که چېرې د ملکیت او یا تجهیزاتو د بېلابېلو برخو د استفادې دورې سره توپیر ولري، دغه ډول برخې د ملکیت یا تجهیزاتو د بېلابېلو اقلامو په توګه محاسبه کېږي.

*د پانګې اچونې د ملکیت نوی تصنیف*

هغه ملکیت چې په راتلونکي وخت کې د ګټې اخیستنې لپاره جوړېږي، هغه د جوړېدلو د بشپړتیا تر وخته پورې د ملکیت او تجهزاتـــو پــه تــوګه محاسبه کېږي. د جوړښت د بشپړتیا په صورت کې د هغه قیمت یوځل بیا محاسبه کېږي. کله چې دغه ډول ملکیت وروسته بیا د پانګې اچونې د ملکیت په توګه وکارول شي د هغه محاسبه د بازار د ارزښت په اساس ترسره کېږي. هر ډول ګټه او تاوان چې د نوې محاسبې پر وخت ومومندل شي د عوایدو په صورت حساب (دګټې او تاوان په صورت حساب) کې درج کېږي.

که چېرې له ملکیت څخه استفاده داسې تغییر ومومي چې د مالك له تصرف څخه وځي او د پانګې اچونې په ملکیت باندې تبدیل شي، په دې صورت کې یاد شوی ملکیت بیا له سره د بازار د ارزښت په اساس سنجول کېږي او د پانګې اچونې د ملکیت په توګه ډلبندي کېږي. د هغه له بیا سنجونې څخه هر ډول لاسته راغلې ګټه په خالصه شتمنۍ کې محاسبه کېږي. د هغه هر ډول زیان له تاخیر پرته د عوایدو په صورت حساب کې ښودل کېږي.

*وروستي لګښتونه:*

د ملکیت یا تجهیزاتو د یوې برخې د تعویض لګښت د ملکیت یا تجهیزاتو د اسمي ارزښت په اساس په پام کې نیول کېږي، په دې شرط چې امکان ولري چې دې پورې تړلې راتلونکي اقتصادي ګټې په یاده شوې برخه کې بانک ته وروګرځول شي او لګښت یې په باوري توګه وسنجول شي. د ملکیت او تجهیزاتو د ورځنیو خدمتونو لګښتونه لکه چې ښایي د عوایدو په صورت حساب (د ګټې او تاوان په صورت حساب) کې په پام کې نیول کېږي.

*استهلاک:*

په ګټه یا تاوان کې استهلاک د تخمیني استفادې په دوره کې په خطي (مستقیم) ډول د ملکیت یا تجهیزاتو له هرې برخې څخه په پام کې نیول کیږي.
په فعلي دوره او مقایسوي دورو کې د تخمیني استفادې موده په لاندې ډول ښودل شوې ده:

| | |
|---|---|
| تعمیرات | 40 کاله |
| موبل او نورتجهیزات | 10 کاله |
| نقلیه وسایط | 6.67 کاله |

د استهلاک د وضع کولو میتودونه، د استفادې دوره او پاتې ارزښت د راپور ورکولو په نېټه یوځل بیا ارزول کیږي.

د نوې ارزونې په نتیجه کې رامنځته شوی اضافي مبلغ د بیلانس شیټ د خالصې شتمنۍ په برخه کې کریډیټ کیږي، په استثنا د هغه حالت چې یاد شوی مبلغ هغه کسر تسویه کړي چې د ورته شتمنۍ له ارزونې څخه د عوایدو په صورت حساب کې محاسبه شوی وي. په وروستي حالت کې، اضافه شوی مبلغ د عوایدو په صورت حساب کې ښودل کیږي. له نوې ارزونې څخه رامنځته شوی کسر د عوایدو په صورت حساب کې په پام کې نیول کیږي، په استثنا د هغه کسر چې نیغ په نیغه د ورته شتمنۍ مخکنی اضافه شوی مبلغ تسویه کړي. په وروستي حالت کې، یاد شوی کسر نیغ په نیغه د نوې ارزونې په ذخیره کې له رامنځته شوي مبلغ سره تسویه کیږي. د پلورلو له لارې د شتمنۍ تر سپارلو وروسته، د نوې ارزونې په نتیجه کې رامنځته شوی اضافي مبلغ ساتل شویو عوایدو ته انتقالیږي. د ملکیت یا تجهیزاتو هر قلم چې کله چې وسپارل شي او یا دا چې تر دې وروسته له هغه څخه د استفادې یا سپارلو اقتصادي ګټې متصورې نه وي، هغه حذف کیږي.

د شتمنۍ له حذف څخه رامنځته شوې هر ډول ګټه یا تاوان (چې د سپارلو د محصول او د شتمنۍ د اسمي ارزښت ترمنځ د تفاوت په توګه محاسبه کیږي) د هغه کال د عوایدو په صورت حساب کې چې شتمني یې له صورت حساب څخه حذف کیږي، درج کیږي. د شتمنۍ پاتې ارزښت، د ګټې اخیستنې موده او د هغه د ټاکلو میتود په منظمه توګه بیاکتل کیږي او لکه چې لازمه وي، تعدیل کیږي.

### د ارزښت کمول
### مالي شتمنۍ

که چېرې عیني مدارک وښيي چې یوه یا ډېرې پېښې له یادې شوې شتمنۍ څخه په رامنځته شویو نغدي جریانونو باندې منفي اثرلري، په دې صورت کې د مالي شتمنۍ ارزښت کمیږي.
د مالي شتمنۍ په ارزښت کې د کمي له امله رامنځته شوی تاوان چې د تدریجي استهلاک د قیمت په اساس سنجول کیږي، د اسمي ارزښت او د راتلونکو نغدي جریانونو د فعلي ارزښت ترمنځ د تفاوت په توګه د لومړنۍ ټکتانې د واقعي نرخ مطابق محاسبه کیږي. د پلورلو لپاره د تیارې مالي شتمنۍ د ارزښت له کمي څخه رامنځته شوی تاوان په بازار کې د هغه فعلي ارزښت ته د رجوع له لارې محاسبه کیږي.

مهمې مالي شتمنۍ په انفرادي ډول د ارزښت د کمي له مخې ازمویل کیږي. نورې مالي شتمنۍ په دسته جمعي توګه په داسې ګروپونو کې چې د کریډیټي رسک مشابه ځانګړتیاوې ولري، ارزول کیږي.

د ارزښت له کمي څخه رامنځته شوي ټول تاوانونه د عوایدو په صورت حساب (دګټې اوتاوان په صورت حساب) کې په پام کې نیول کیږي. د پلورلو لپاره د تیارې مالي شتمنۍ هر اړوند تراکمي زیان چې مخکې د خالصې شتمنۍ له جملې څخه ګڼل کېده، د عوایدو صورت حساب ته انتقالیږي.

د ارزښت له کمي څخه رامنځته شوی تاوان هغه وخت بېرته ګرځول کیږي چې بېرته ګرځول د ارزښت د کمي له پېژندلو څخه وروسته پېښ شي. د مالي شتمنیو په برخه کې چې د تدریجي استهلاک په قیمت سنجول کیږي او د هغو شتمنیو په هکله چې د پلورلو لپاره تیارې وي او د قرضې له ارزښتناکو سندونو څخه عبارت دي، د ارزښت د کمي د ضرر معکوسېدل د عوایدو په صورت حساب کې ښودل کیږي. د پلورلو لپاره د تیارې مالي شتمنۍ په برخه کې چې له ملکیتي ارزښتناکو سندونو څخه تشکیل شوي دي، د ارزښت له کمي څخه رامنځته شوی تاوان نېغ په نېغه په خالصه شتمنۍ کې محاسبه کیږي.

## غیر مالي شتمنۍ

د بانک د غیرمالي شتمنۍ اسمي ارزښت د راپور ورکولو په هره نېټه تربیاکتنې لاندې نیول کیږي څو د هغه د ارزښت د کمي نښې (که وي)، تثبیت شي. که چیرې دغه ډول نښې وجود ولري، د شتمنۍ بیاترلاسه کېدونکی مبلغ تخمینیږي.

د شتمنۍ بیاترلاسه کېدونکی مبلغ له هغه څخه د استفادې د ارزښت یا د هغه د بازار له ارزښت څخه عبارت دی چې د پلورلو د لګښت تر نفي کولو وروسته ښودل کیږي. د استفادې د ارزښت د تعینولو لپاره، د راتلونکي وخت تخمیني نغـدي جریان فعلي ارزښت ته راښکته کیږي او د دې کار لپاره له مالیاتو څخه مخکې د تنزیل له ضریب څخه استفاده کیږي چې د پیسو د زماني ارزښت او د شتمنۍ د ځانګړیو رسکونو په هکله د بازار فعلي ارزونې ښیي.

د ارزښت له کمي څخه رامنځته شوی تاوان هغه وخت په پام کې نیول کیږي چې د شتمنۍ اسمي ارزښت د هغه له بیاترلاسه کېدونکي مبلغ څخه ډېر وي. د ارزښت له کمي څخه رامنځته شوي تاوانونه د عوایدو په صورت حساب (د ګټې او تاوان په صورت حساب) کې ښودل کیږي.

په تېرو دورو کې د ارزښت له کمي څخه رامنځته شوي تاوانونه د راپور ورکولو په هره نېټه کتل کیږي څو ومونډل شي چې آیا یاد شوی تاوان کم شوی یا بېخي له منځه تللی دی. د ارزښت له کمي څخه رامنځته شوی تاوان هغه وخت معکوس ګرځي چې د بیاترلاسه کېدونکي مبلغ د تعینولو لپاره د استفادې وړ تخمیناتو کې تغیر منځته راغلی وي. د ارزښت له کمي څخه رامنځته شوی تاوان یوازې هغه وخت معکوس ګرځي چې د شتمنۍ اسمي ارزښت له هغه اسمي ارزښت څخه ډېر نه وي چې کېدای شي د استهلاک تر وضع کولو وروسته د ارزښت له کمي څخه د رامنځته شوي تاوان په صورت کې تعیین شي.

## د کارمندانو حقونه

### د ټاکل شویو حقونو پلان (فنډ):

بانک د خپلو دایمي کارمندانو د تقاعد د حقونو پروګرام لري. د یادو شویو حقونو سهمیه د کارمندانو او بانک له خوا تادیه کیږي. کارمندان د

خپلو میاشتنیو خالصو معاشونو ٪۳ او خپل تعلیمي حقونه او امتیازونه د سهمیې په توګه تادیه کوي او بانک هر کال ٪۵ خالص بودجوي معاشونه د تقاعد ذخیرې ته تادیه کوي. د تقاعد حقونه د تقاعد تر اجراء وروسته هره میاشت د بانک د تقاعد د حقونو د مقررې مطابق د خدمت د کلونو په پام کې نیولو سره په بالفعل ډول د تادیې وړ دي.

د تقاعد د ټاکلو حقونو د پروګرام په برخه کې د بانک خالص پور د راتلونکي د حقونو د مبلغ د تخمین په واسطه چې کارمندان به یې د خپل خدمت د فعلي او پخوانی دورې په موده کې ترلاسه کوي، محاسبه کیږي. یاد شوي حقونه د دې لپاره تنزیل مومي چې فعلي ارزښت یې تخمین شي او د پخوانیو خدمتونو هر ډول لګښتونه چې په پام کې نه وي نیول شوي او په پلان کې د شاملې شتمنۍ د بازار ارزښت له هغه څخه وضع شي. دتنزیل نرخ له هغې ګټې څخه عبارت دی چې د راپور ورکولو په نېټه له ارزښتناکو دولتي سندونو څخه چې د پخوالي نېټه یې د بانک د پورونو له نېټو سره تقریبا برابره وي، لاسته راځي. د هغه محاسبه د یوه مسلکي محاسب په واسطه "د یوه واحد پیشبیني شوي کریډیټ میتود" په کارولو سره ترسره کیږي. که چېرې محاسبه د بانک په ګټه تمامه شي، محاسبه شوې شتمني د پخوانیو خدمتونو د نه محاسبه شویو لګښتونو خالصې مجموعې پورې محدودیږي.

که چېرې په دغه ډول پروګرامونو کې شامل حقونه زیات شي، د حقونو هغه برخه ډېرېږي چې د کارمندانو پخوانیو حقونو پورې اړه لري. په خطي (مستقیمه) توګه، یاد شوي حقونه د منځنۍ دورې په دوران کې د تعمیل تر وخته پورې د عوایدو په صورت حساب کې په پام کې نیول کیږي. که چېرې یاد شوي حقونه له ځنډ پرته تعمیل شي، لګښتونه یې سمدستي د عوایدو په صورت حساب کې ښودل کیږي.

## *لنډمهاله حقونه:*

د لنډې مودې د کارمندانو اړوند (بالمقطع) حقونه په نه تنزیل شوي شکل سنجول شوي او لګښتونه یې د خدمتونو د وړاندې کولو پر وخت محاسبه کیږي.

## *و. پرویژنونه ( راتلونکي تامینات)*

که چېرې بانک د پخوانۍ پېښې په اثرداسې فعلي حقوقي یا عملي مکلفیت ولري چې په باوري توګه تخمینېدلی شي، او که چېرې د یاد شوي مکلفیت د تسویې لپاره د اقتصادي حقونو پرځای کول لازم وي، په دې صورت کې پرویژن په پام کې نیول کیږي. پرویژنونه په راتلونکي وخت کې د متوقع نغدي جریانونو د تنزیل په واسطه له مالیې څخه د وړاندې وخت له ضریب سره چې د پیسو د زماني ارزښت په برخه کې د بازار ارزونې او د پور اړوند ځانګړي خطرونه منعکسوي، تعینیږي.

## ز. ټکټانه

د ټکټانې عواید او لګښتونه د واقعي ټکټانې د میتود په کارولو سره د عوایدو په صورت حساب کې ښودل کیږي. د ټکټانې واقعي نرخ هغه نرخ دی چې د راتلونکي وخت تخمیني نغدي تادیات او عواید له مالي شتمنۍ یا پور څخه د استفادې د متوقع مودې پر وخت راټیټوي. د واقعي ټکټانې نرخ د مالي شتمنۍ د لومړنۍ محاسبې یا پور په اساس تثبیتیږي، او وروسته بیا نه اصلاح کیږي.

د واقعي ټکټانې د نرخ په محاسبه کې ټول فیسونه، د معاملو لګښتونه، او تنزیل یا جوایز چې د واقعي ټکټانې د نرخ نه بېلېدونکې برخه جوړوي، شامل دي. معاملاتي لګښتونه هغه تزییدي لګښتونه دي چې مستقیما یې د مالي شتمنی یا پورونو تملك، صدور او یا سپارلو ته نسبت کېږي.

د ټکټانې هغه عواید او لګښتونه چې د عوایدو په صورت حساب کې ښودل کېږي په لاندې ډول دي:

- د تدریجي قیمت مطابق د ټکټانې د واقعي نرخ په اساس په مالي شتمنیو او پورونو باندې لګېدلې ټکټانه.
- د ټکټانې د واقعي نرخ په اساس د پانګې اچونې لپاره په تیارو ارزښتناکو سندونو باندې لګېدلې ټکټانه.

### ح. فیسونه او کمېشنونه (حق العمل)

د عوایدو او لګښتونو فیسونه او کمېشنونه د مالي شتمنی یا پورونو نه بېلېدونکې برخه ده او د ټکټانې د واقعي نرخ په سنجولو کې په پام کې نیول کېږي.

د فیسونو او کمېشن نور عواید، د انتقال کمېشن، او د ځانګو د هماهنګی کمېشن، د اړوندو خدمتونو د اجراء کولو پر وخت محاسبه کېږي. که چېرې توقع نه وي چې د قرضې تعهد به د قرضې د تادیې سبب وګرځي، په دې صورت کې د قرضې د تعهد فیس د هغه د تعهد د دورې پر وخت په خطي (مستقیم) ډول محاسبه کېږي.

د فیسونو او کمېشن نور لګښتونه په عمومي توګه د هغو معاملو او خدمتونو فیسونو پورې تړلي دي چې لګښتونه یې د خدمتونو د ترسره کولو پر وخت محاسبه کېږي.

### ط.. د کرایې عواید

له پانګول شوي ملکیت څخه د لاسته راغلې کرایې عواید د اجارې د دورې پر وخت د عوایدو په صورت حساب کې په خطي (مستقیم) ډول محاسبه کېږي. په اجاره کې اعطا شوي امتیازونه د اجارې د مودې په جریان کې د ټولې کرایې د عاید د نه بېلېدونکې برخې په توګه محاسبه کېږي.

### ی. بلاعوضه مرسته

هغه بلاعوضه مرستې چې د بازار د نرخ په اساس محاسبه کېږي تر خالصې شتمنی لاندې ښودل کېږي (په دې شرط چې داسې مناسب تامینات موجود وي چې په اساس به یې مرسته ترلاسه او ټول اړوند شرایط یې رعایت شي). کله چې مرسته یو د لګښت قلم پورې اړه ولري، په هغه موده کې د عوایدو په صورت حساب کې ښودل کېږي چې د لګښت له هغه قلم سره د توافق لپاره چې په پام کې ده چې د مرستې په واسطه جبران شي، په منظمه توګه لازم وي. که چېرې مرسته شتمنی پورې اړه ولري، "د بازار ارزښت د مؤخرې مرستې" د عوایدو په حساب کې کریډیټ کېږي او د متوقع استفادې په موده کې له اړوندې شتمنی څخه په منظم ډول د شتمنی د استهلاك د پالیسی په پام کې نیولو سره د عوایدو صورت حساب پورې ځانګړې کېږي.

### ك. مالیه

د افغانستان بانك د قانون د یوسل او څلېریشتمې مادې په اساس، یاد شوی بانك د عوایدو، شخصي ملکیتونو، د پیسو د انتقال یا نورو مالي معاملو، او

همدارنګه د صکوکو په شکل د ارزښتناکو سندونو او بانکنوټونو په صدورباندې له لګېدلو مالیاتو، ګمرکي محصول، وارداتي محصول، د پلورنې له مالیاتو، د طلا، بانکنوټونو اوسکو په تورید باندې د اضافه شوي ارزښت له مالیاتو، د طلا، بانکنوټونو او سکو او نورو د داخلي ذخایرو پر پلورلو باندې له لګېدلو مالیاتو څخه معاف دی.

له دې امله، په عایداتو باندې د مالیاتو پروېژن په مالي صورت حسابونو کې نه دی درج شوی.

## ل. د دوران دننه پیسې

په دوران کې داخل شوي بانکنوټونه او سکې د بانک له خزانې څخه تر صدور وروسته د بانک د عندالمطالبه پورونو ممثل دي، او د هغو د اسمي ارزښت په اساس په بیلانس شیټ کې ثبتیږي. د دوران د داخل بانکنوټونو او سکو په لګښتونو کې د تولید، مصؤنیت، ټرانسپورټ، بیمې او نور لګښتونه شامل دي. د دوران د داخل بانکنوټونو او سکو لګښتونه د هغو د وقوع په اساس او مهال ښودل کیږي.

## م. طلا

### هغه طلا چې د ذخیرې په توګه ساتل کیږي

هغه خالصه طلا چې د خارجي ذخیرې په توګه ساتل کیږي د بیلانس شیټ په نېټه د هغې د بازار د قیمت په اساس ثبتیږي. د بازار قیمت "د لندن د فلزي شمشو د بازار د ټولنې" د ماسپښین د قیمت په اساس تثبیتیږي. د طلا د بازار په قیمت کې تغیرات مستقیما د خالصې شتمنی په توګه پېژندل کیږي. د نوې ارزونې له امله رامنځته شوې مجموعي ګټه د نوې ارزونې د ذخایرو په برخه کې د خالصې شتمنی ترعنوان لاندې ښیله ښودل کیږي.

### په خزانه کې موجوده طلا

غیرخالصه طلا او د بانک په خزانه کې موجود قیمتي فلزات د هغو د قیمت په اساس ثبتیږي او په نورو شتمنیو کې شامل دي.

### ن. نوي معیارونه او تفسیرونه چې لا نافذ شوي نه دي:

یو شمېر نوي معیارونه، تعدیلونه او تفسیرونه د ۱۳۸۵ کال تر پایه پورې د اجراء وړ نه دي او د دغو صورت حسابونو په ترتیب کې نه دي کارول شوي.

• د مالي راپور ورکولو د ۷ نړیوال معیار په اساس "د مالي سندونو ښکارول" تر عنوان لاندې او د مالي راپور ورکولو په ۷ نړیوال معیار کې د شویو تعدیلاتو په اساس د "مالي صورت حسابونو وړاندې کول – د پانګې ښودل" تر عنوان لاندې، لازمه ده چې د موسسې د مالي وضعیت او اجرأتو لپاره د مالي سندونو د اهمیت په هکله او د رسک د ماهیت او حدودو په برخه کې پراخ کیفي او کمي اظهارات ترسره شي. پورتنی معیار او تعدیل چې رعایت یې د ۲۰۰۸ کال په صورت حسابونو کې لازم دی، ایجابوي چې د بانک د مالي سندونو او د هغو د پانګې د سهامو په هکله پراخ اظهارات وشي.

• د مالي راپور ورکولو ۲۹ نړیوال معیار د بیان د نوي میتود د تطبیق په هکله د معیارونو د تفسیر د کمېټې ۷ ګڼه مصوبه " له حد څخه د ډېر انفلاسیون لرونکو اقتصادي نظامونو په هکله مالي راپور ورکول" تر عنوان لاندې له حد څخه د ډېر انفلاسیون تر شرایطو لاندې د وروستي معیار د تطبیق

په هکله د لومړي ځل لپاره د اقتصاد په نظام کې او په ځانګړې توګه د معوقو مالیاتو د محاسبې په هکله معلومات ورکوي. د یادې شوې مصوبې رعایت د ۲۰۰۸ کال په مالي صورت حسابونو کې لازم دی او توقع نه کیږي چې په یادو شویو صورت حسابونو باندې به اثر پرې باسي.

• د مالي راپور ورکولو د ۲ نړیوال معیار د تطبیق په هکله د مالي راپور ورکولو ۸ ګڼه مصوبه د "تادیه د سهم په اساس" تر عنوان لاندې د سهامو په اساس د هغو تادیاتي معاملاتو د محاسبې په هکله تطبیقیږي چې ځینې یا ټول ترلاسه شوي اجناس او خدمتونه په مشخص ډول تفکیک نشي. د یادې شوې مصوبې رعایت د بانک د ۲۰۰۸ کال په مالي صورت حسابونو کې حتمي، او د عطف تطبیق د هغه په ماقبل باندې به لازمي وي.

• د مل مشتقاتو د نوې ارزونې په هکله د نړیوال مالي راپور ورکولو د تفسیر د کمېټې ۹ ګڼه مصوبه ایجابوي چې له اصلي قرارداد څخه د مل مشتق تفکیک باید یوازې هغه وخت بیا وارزول شي چې په یاد شوي قرارداد کې د صورت تغیرات راښکاره نشي. توقع نه کیږي چې یاده شوې مصوبه دې چې د ۲۰۰۸ کال په صورت حسابونو کې لازمي ګرځول شوې ده، په یادو شویو مالي صورت حسابونو باندې اغیزه وکړي.

• د موقت مالي راپور ورکولو په هکله د نړیوال مالي راپور ورکولو د تفسیر د کمېټې ۱۰ ګڼه مصوبه ایجابوي چې د هغه ارزښت له کمي څخه د رامنځته شوي ضرر معکوسول چې مخکې په موقته دوره کې په غیرمادي، په ملکیتي ارزښتناک سند کې د پانګې اچونې، او یا مالي شتمنی کې د تمام شوي قیمت په اساس ښودل شوی، واقع شوی وي، ممنوع وګرځي. یاده شوې مصوبه د ۲۰۰۸ کال د مالي صورت حسابونو لپاره لازمي ده.

| 1384 | 1385 | | |
|---|---|---|---|
| ("000" افغانی) | ("000" افغانی) | یادداشت | |
| نوې شرحه | | | |
| | | | 4. د طلا ذخایر |
| 19511308 | 23217290 | 4.1 | له فدرل ریزرف بینک آف نیویارک سره د طلا ذخایر |

4.1 دغه طلا په فدرل ریزرف بینک آف نیویارک کې د مستطیل شکله خښتو په شکل موجوده ده. د یادو شویو طلایي خښتو کمیت او ارزښت د بیلانس شیټ په نېټه په لاندې ډول ښودل شوی دی:

| 1384 | 1385 | |
|---|---|---|
| 1731 | 1731 | د طلایي خښتو د شمېر مجموعه |
| 703004944 | 703004944 | وزن (په ټرای اونس ) |
| 555.75 امریکایي ډالر | 659 امریکایي ډالر | د طلا ارزښت په خالص ټرای اونس |
| 390694998 امریکایي ډالر | 463280258 امریکایي ډالر | د طلا مجموعي ارزښت |
| 49.940 | 50.115 | د ۱ امریکایي ډالر لپاره په افغانیو کې د تبادلې نرخ |
| 19511308 | 23217290 | **د کال په پای کې د طلا ارزښت ("000" افغانی)** |
| 4560258 | 3705982 | **د کال په جریان کې نه تحقق موندلې ناخالصه ګټه ("000" افغانی)** |

| 1384 | 1385 | |
|---|---|---|
| ("000" افغانی) | ("000" افغانی) | |
| بیا شرحه شوی | | |
| 4163817 | 3637610 | د طلا په نه تحقق موندلې ارزښت کې ډېروالی |
| 396441 | 68372 | د تبادلې په نرخ کې نه تحقق موندلې ګټه |
| 4560258 | 3705982 | **د کال په جریان کې نه تحقق موندلې ناخالصه ګټه** |

5. **په بانکونو او مالي موسساتو باندې موجود طلب**

| 1384 | 1385 | |
|---|---|---|
| 39330627 | 46793327 | په خارجي بانکونو کې ځای په ځای شوي |
| (1458768) | 10934851 | جاري حسابونه په خارجي بانکونو کې |
| 14890 | 8177538 | د حسابونو بیلانسونه په نورو مرکزي بانکونو کې |
| 37886748 | 65905716 | |

6. د ټریژري بل

| | | |
|---|---|---|
| 16148126 | 15697557 | امریکایي ټریژري بل |

7. طلبات او نور د حصول وړ مبالغ

| | | |
|---|---|---|
| د حصول وړ په خارجي اسعارو | 1067054 | 37630 |
| د حصول وړ په داخلي پیسو | 120483 | 89680 |
| | 1187537 | 127310 |
| منفي: پروېژن د مشکوکو طلباتو لپاره | 184151 | 0 |
| | 1003386 | 127310 |

## 8. جایدادونه اوتجهیزات

| | ځمکه تر مطلق ملکیت لاندې | ودانۍ | موبل، ثابته اثاثیه او تجهیزات | مجموعه |
|---|---|---|---|---|
| | | (افغانی "000") | | |
| **قیمت** | | | | |
| د ۱۳۸۴ د حمل د ۱ بیلانس | 1415074 | 101706 | 70021 | 1586801 |
| اضافه کول | - | 10198 | 50728 | 60926 |
| د ۱۳۸۴ د کب د میاشتې د ۲۹ بیلانس | 1415074 | 111904 | 120749 | 1647727 |
| د ۱۳۸۵ د حمل د ۱ بیلانس | 1415074 | 111904 | 120749 | 1647727 |
| اضافه کول | - | 64000 | 10648 | 74648 |
| ارزول | 369490 | 0 | 0 | 369490 |
| د ۱۳۸۵ د کب د میاشتې د ۲۹ بیلانس | 1784564 | 175904 | 131397 | 2091865 |
| **استهلاک** | | | | |
| د ۱۳۸۴ د حمل د ۱ بیلانس | - | 4430 | 14892 | 19322 |
| د کال استهلاک | - | 4685 | 20368 | 25053 |
| د ۱۳۸۴ د کب د میاشتې د ۲۹ بیلانس | - | 9115 | 35260 | 44375 |
| د ۱۳۸۵ د حمل د ۱ بیلانس | - | 9115 | 35260 | 44375 |
| د کال استهلاک | - | 6285 | 19747 | 26032 |
| د ۱۳۸۵ د کب د میاشتې د ۲۹ بیلانس | - | 15400 | 55007 | 70407 |

د میزان انتقال

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| د ۱۳۸۴ د حمل ۱ | 1415074 | 97276 | 55129 | 1567479 |
| د ۱۳۸۴ د کب د میاشتې ۲۹ | 1415074 | 102789 | 85489 | 1603352 |
| د ۱۳۸۵ د حمل ۱ | 1415074 | 102789 | 85489 | 1603352 |
| د ۱۳۸۵ د کب د میاشتې ۲۹ | 1784564 | 160504 | 76390 | 2021458 |

| | یادداشت | 1385<br>("000" افغانی) | 1384<br>("000" افغانی) |
|---|---|---|---|

نوې شرحه

## 9. نورې شتمنۍ

| | | | |
|---|---|---|---|
| شمشه او نه تصفیه شوې طلایي خښتې | 9.1 | 8061400 | 8061400 |
| د څانګو ترمنځ حسابونه | 9.2 | 1039034 | 9352200 |
| | | 9100434 | 17413600 |

۱. ۹ دغه برخه د بانک په خزانه کې موجوده شمشه او طلایي خښتې ښیي. د مالیې د وزارت او د بانک ترمنځ د ۱۳۸۳ کال د پوهاوي (تفاهم نامې) په اساس ټولې شمشې او طلایي خښتې او ځینې طلایي او نقره یي سکې چې د (جمهوري ریاست د ارګ) په خزانه کې موجودې وې په بشپړه توګه بانک پورې وتړل شوې او د بانک ملکیت وګرځېدې. په ۱۳۸۴ کال کې د یادو شویو شمشو، استوانو او سکو ارزښت د دې لپاره محاسبه شو چې د تفاهم نامې هدفونه ترسره شي او د هغه ارزښت په دې رشته کې د یوه پخواني مسلکي شخص له خوا ۸۰۶۱۴۰۰ زره افغانۍ تخمین شو.

۲. ۹ دغه برخه د څانګو ترمنځ په جاري حسابونو کې غیرتطبیق شوي تفاوتونه په ګوته کوي.

| | یادداشت | 1385<br>("000" افغانی) | 1384<br>("000" افغانی) |
|---|---|---|---|

نوې شرحه

## 10. په دوران کې داخل پیسې

| | | |
|---|---|---|
| سکې | 971013 | 456209 |
| بانکنوټونه | 56612348 | 48003308 |
| په دوران کې داخل مجموعي پیسې | 57583362 | 48459517 |
| منفی: په بانک کې موجودې پیسې | (7254468) | 57583363 |
| په دوران کې موجودې خالصې پیسې | 50328894 | 4353481 |

11. کاپیټال نوټ

| | | | |
|---|---|---|---|
| د کاپیټال نوټ اسناد چې داخلي بانکونو او د پیسو صرافانو ته صادر شوي دي. | 11.1 | 1179406 | 380000 |

11.1 کاپیټال نوټ له هغو ټکټانه لرونکو اسنادو څخه عبارت دي چې د پیسو د بازار د فعالیتونو د تنظیم د وسیلې په توګه د افغانستان بانک له خوا سوداګریزو بانکونو او د اسعارو مجوزو صرافانو ته صادریږي.

| | یادداشت | 1385 ("000" افغانی) | 1384 ("000" افغانی) |
|---|---|---|---|

نوې شرحه

12. امانتونه په داخلي بانکونو کې

| | | | |
|---|---|---|---|
| امانتونه په داخلي بانکونو کې | 12.1 | 1539571 | - |

دغه امانتونه په مرکزي بانک کې د سوداګریزو بانکونو لپرتلره ذخایر ښیي چې باید د بانکداری د مقرراتو د غوښتنې او نورو جاري حسابونو په اساس وجود ولري.

| 1385 ("000" افغانی) | 1384 ("000" افغانی) |
|---|---|

نوې شرحه

13. د مشتریانو له خوا پر بانک

| | 1385 | 1384 |
|---|---|---|
| **په خارجي اسعارو** | | |
| جاري حسابونه | 21459578 | 23632396 |
| معیادي امانتونه | 31577 | 31577 |
| راکد یا غیرفعال حسابونه | 11533 | 13855 |
| باقي پاتې حسابونه | 159110 | 159360 |
| | 21661798 | 23837188 |
| **په داخلي پیسو** | | |
| جاري حسابونه | 19625189 | 14462034 |
| معیادي امانتونه | 7399 | 7401 |
| راکد یا غیرفعال حسابونه | 39323 | 43123 |
| باقي پاتې حسابونه | 29607 | 24832 |
| | 19701518 | 14537390 |
| **د مشتریانو له خوا پر بانک د شتو مجموعه** | 41363316 | 38374578 |

14. د نړیوال وجهي صندوق اړوند پورونه

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱ حساب | 14.1 | 30937 | 2368 |
| ۲ حساب | 14.1 | 1112 | 1112 |
| | | 32049 | 3480 |

د افغانستان اسلامي جمهوريت له ۱۹۵۵ کال راهيسې د نړيوال وجهي صندوق غړی دی. د دغې ادارې غړې هېوادونه کولی شي چې د ماليې وزارت، مرکزي بانک يا بل ارګان د خپل مالي استازي په توګه وټاکي. سربېره پر دې، له غړو هېوادونو څخه هر يو د قانون په اساس مکلف دی چې خپل مرکزي بانک د دولت د امانت ساتونکي په توګه توظيف کړي. د افغانستان دولت د ماليې وزارت د مالي استازي او مرکزي بانک د دولت د امانت ساتونکي په توګه ټاکلي دي.

مرکزي بانک د افغانستان د دولت د امانت ساتونکي په توګه مکلف دی چې پر نورو حسابونو سربېره لاندې حسابونه هم ولري:

۱ حساب

۲ حساب

د نړيوال وجهي صندوق شتمني د غړيو هېوادونو په محلي پيسو د هېواد په مرکزي بانک کې په ۱ او ۲ ګڼه حسابونو کې ساتل کېږي. مرکزي بانک (د افغانستان بانک) مکلف دی چې په ۱ او ۲ ګڼه حسابونو کې د نړيوال وجهي صندوق موجود بيلانسونه د خپلو پورونو په توګه درج کړي. که څه هم چې ياد شوي بيلانسونه په مرکزي بانک کې ساتل کېږي خو د نړيوال وجهي صندوق ملکيت دی. د نړيوال وجهي صندوق ۱ ګڼه حساب د نړيوال وجهي صندوق د عملياتي معاملو او ۲ ګڼه حساب يې د نړيوال وجهي صندوق د عملياتي لګښتونو لپاره دی چې د غړي هېواد په اسعارو باندې ترسره کېږي.

| | يادداشت | 1385 ("000" افغانی) | 1384 ("000" افغانی) |
|---|---|---|---|
| نوې شرحه | | | |

15. پرويژنونه او نور پورونه

| | | | |
|---|---|---|---|
| دولت ته د تاديې وړ ماليات | | 112 | 228 |

| | | | |
|---|---|---|---|
| د لیتر آف کریډیټ ذخیره | | 4805583 | 2026826 |
| د مؤجل یا وروسته پاتې مرستې تر لاسه کول | 15.1 | 28961 | 23878 |
| متفرقه کریډیټورونه | 15.2 | 1140599 | 768104 |
| | | 5975255 | 2819036 |

**15.1 مؤجله یا وروسته پاتې مرسته**

| | | |
|---|---|---|
| د وري د میاشتې د ۱ بیلانس | 23878 | 8773 |
| د کال په اوږدو کې د شتمنیو یا بلاعوضه مرستې ترلاسه کول | 12324 | 21013 |
| عوایدو ته انتقال شوي | (7240) | (5905) |
| **د کب د میاشتې د ۲۹ بیلانس** | 28961 | 23878 |

| | یادداشت | 1385 | 1384 |
|---|---|---|---|
| | | ("000" افغانی) | ("000" افغانی) |
| | | | نوې شرحه |

15.2 متفرقه کریډیټورونه (سنډ ري)

| | | | |
|---|---|---|---|
| متفرقه ډاینینو ته د تادیې وړ | | 4300 | 8096 |
| مشکوک حسابونه | 15.3 | 1023666 | 310515 |
| د پوهاوي (تفاهم نامې) په اساس دولت ته د تادیې وړ | 15.4 | 8596 | 5635 |
| کارمندانو ته د تادیې وړ مکافات | | 104037 | 443859 |
| د متفرقه کریډیټورونو مجموعه | | 1140599 | 768104 |

۳. ۱۵. په دې کې د خارجي اسعارومتفرقه کریډیټوران موجود دي چې مبلغ يې ۳۴۳۵۱ زره افغـانـی دی او د ۱۳۸۲ او ترهغه مخکې کلونو پورې اړه لري چې په مخکنیوحسابونو کې نه دي پېژندل شوي. سربېره پر دې، پـه مشکوکو حسابونو کې د پخوانیو کلونوغیرتسویه شوي بیلانسونه شامل دي چې باید تطبیق اومقایسه شي. بـانـک د یادو شویو بیلانسونو د تطبیق اومقایسې په پروسه کې دی او وروسته به اړوند حساب یا ذخیرې ته منتقل شي.

۴. ۱۵. د تفاهم نامې په اساس دولت ته د ۱۳۸۵ او ۱۳۸۶ کلونو د تادیې وړمبلغونه هغه مبلغونه دي چې د هـغـو قرضونو له بابته ترلاسه کیږي چې تر ۱۳۸۲ کال وړاندې ورکړای شوي دي، او د هغو د قرضې حسابونه مخکې ترمخکې د یادې شوي تفاهم نامې په اساس د مالیې وزارت ته انتقال شوي دي.

| نوې شرحه | یادداشت | 1385 ("000" افغانی) | 1384 ("000" افغانی) |
|---|---|---|---|
| 16 د ټکټانې عواید | | | |
| په بانکونو او مالي موسسو کې د بیلانسونو ټکټانه | | 3390424 | 1927469 |
| د ټریژری ټکټانه | | 115891 | - |
| د ټکټانې د عوایدو مجموعه | | 3506315 | 1927496 |
| په خارجي اسعارو | | 3506315 | 1927469 |

| نوې شرحه | یادداشت | 1385 ("000" افغانی) | 1384 ("000" افغانی) |
|---|---|---|---|
| 17. **نورعواید** | | | |
| د کرایې عواید | | 2007 | 9600 |
| د مؤجلو بلاعوضه مرستوعواید | | 7240 | 5909 |
| د تابع نهادونو له سپارنې څخه رامنځته کېدونکي عواید | | 0 | 10776 |
| نور | | 40705 | 23328 |
| **د نورو عوایدو مجموعه** | | 49952 | 49613 |

| | | | |
|---|---|---|---|
| 18. **معاشونه او د کارکونکو نور حقونه** | | | |
| معاشونه اوتنخاګانې | | 189577 | 149763 |
| د متقاعدینو د تعین شویو حقونو په فنډ کې سهمیه | | 26464 | 63042 |
| **د معاشونو او نورو حقونو مجموعه** | | 216041 | 212805 |

## 19. عمومي او اداري لګښتونه

| | | |
|---|---|---|
| د مفتشينو فيس | 6036 | 1748 |
| ترميم اوحفظ ومراقبت | 8449 | 12275 |
| کرايه | 8130 | 4527 |
| نشر او طبعه او قرطاسيه | 5938 | 6015 |
| حمل و نقل (ټرانسپورټ) | 13496 | 10387 |
| ارتباطات | 28228 | 20176 |
| بيمه | 1644 | 1634 |
| سفر | 13684 | 9161 |
| د مشکوک الحصول قرضونو پرويژن | 184151 | 0 |
| نور لګښتونه | 19719 | 19233 |
| د عمومي او اداري لګښتونو مجموعه | 289475 | 85156 |

## ۲۰. د پوهاوي يادښت

بانک په ۱۳۸۳ کال کې د ماليې له وزارت سره يوه تفاهم نامه لاسليک کړه چې د هغه په اساس د دولت د مختلفو وزارتونو د ذمت او طلب بيلانسونه د ۱۳۸۵ کال د کب د مياشتې پر ۱۲مه معاوضه او په سرمايه کې اصلاح شول، اوپه نتيجه کې په سرمايه کې۸۰۶۷۷۹۴ زره افغانۍ زيان رامنځته شو. د تفاهم نامې په اړوندو حسابونو کې د شاملو بيلانسونو پوره تطبيق او مقايسه روانه ده، او د تطبيق او مقايسې د عمليې اړوند تعديلات به چې د مبالغو د لاسته راوړنې په اساس ترسره کيږي، په راتلونکو کلونو کې منعکس شي.

## ۲۱. خالصه شتمني

### ۱ . ۲۱سرمايه

د افغانستان بانک د قانون د شلمې مادې په اساس، د افغانستان بانک مجازه سرمايه ۸۰۰۰۰۰۰ زره (۸ ميليارده) افغانۍ او يا تر دې اضافه مبلغ دی چې د ياد شوي قانون د ۲۹مې مادې په اساس چې د خالصو منافعو د انتقال په نتيجه کې رامنځته کيږي، تعينيږي. د افغانستان بانک سرمايه د افغانستان د اسلامي جمهوريت حکومت پورې اړه لري او د انتقال وړ يا رهني نه ده. دتفاهم نامې د ياد شوي يادښت په اساس، د ماليې وزارت ته د بانک تاديه شوې سرمايه د شتمنۍ او پورونو د انتقال په نتيجه کې له ۲۰۰۰۰۰۰ زره (دوه ميلياره) افغانيو څخه کمې اندازې ته رابښکته شوې ده.

### ۲. ۲۱. د بيا ارزونې ذخيره

د افغانستان بانک د قانون د ۲۹مې مادې په اساس، بانک مکلف دی چې عمومي ذخيره او د بيا ارزونې ذخيره

ولري. بانک کولی شي چې د مالیې د وزارت په تصویب سره، د اړتیا پر وخت، خاص ذخایر ایجاد کړي.
بانک د بیا ارزونې ذخیره لري چې د ۱۳۸۵ کال د کب د میاشتې پر ۲۹مه نېټه ۱۹۸۹۰۲۵۹ زره افغانی وه. دغه مبلغ د بازارپه قیمتونو د طلا د بیا ارزونې نه تحقق موندلې متراکمه ګټه او د مطلق ملکیت د ځمکې له مناسب تخمیني ارزښت څخه نمایندګي کوي.

| | یادداشت | 1385 ("000" افغانی) | 1384 ("000" افغانی) نوې شرحه |
|---|---|---|---|
| الف: د طلا د بیا ارزونې ذخیره | | | |
| د حمل پر۱ د طلا د بیا ارزونې ذخیره | | 15883159 | 11719342 |
| په کال کې د طلا له بیا ارزونې څخه ترلاسه شوې ګټه | | 3637610 | 4163817 |
| د کب د میاشتې پر۲۹ د طلا د بیا ارزونې ذخیره | | 19520769 | 15883159 |
| ب: د مطلق ملکیت لاندې ځمکې د بیا ارزونې ذخیره | | | |
| د حمل پر۱ د ځمکې د بیا ارزونې ذخیره | | 0 | 0 |
| په کال کې د ځمکې له بیا ارزونې څخه ترلاسه شوې ګټه | | 369490 | 0 |
| د کب د میاشتې پر۲۹ د ځمکې د بیا ارزونې ذخیره | | 369490 | 0 |
| د بیاارزونې د ارزښت مجموعي ذخیره | | 19890259 | 15883159 |

### ۳. ۲۱. متراکم زیانونه

د افغانستان بانک د قانون د ۳۰مې مادې په اساس، که چېرې د افغانستان بانک په کوم مالي کال کې خالص زیان ووینې، دغه زیان په ترتیب سره د عمومي ذخیرې حساب (په استثنا د دې چې که چېرې نه تحقق موندلې ارزونه موجوده وي، دغه ډول زیان لومړی د ارزونې د ذخیرې حساب ته منتقل کیږي) یا له مجرایي سرمایې څخه حاصلوي. که چېرې د نه تحقق موندلې ارزونې د زیان بیلانس موجود وي، د نوې ارزونې له ذخیرې سره تر تسویې وروسته په ترتیب سره عمومي ذخیرې او سرمایې سره اصلاح کیږي.

هغه متراکم زیانونه چې په بیلانس شیټ کې ښودل شوي دي د بانک له خالص عملیاتي زیان څخه نمایندګي نه کوي، خو د مالیې وزارت ته د شتمنی او پورونو د انتقال په نتیجه کې، د زړو شتمنیو او پورونو حذف او د متممو ریکارډونو او د حسابدارۍ د سیستم ترمنځ د نه ثبت شویو تفاوتونو د تسویې لپاره په کار دي چې په

بیلانس شیټ کې مندرج متراکم خالص زیان وروسته د بانک د عالي شورى له خوا د منظورۍ په صورت کې سرمايې پورې ځانګړی شي.

**۲۲. عمومیات**

ارقام د افغانیوترټولو نژدې زرونو ته ورګرځېدلي (راونډ آف شوي) دي.

مسعودخان موسی غازی
عمومی مالی آمر

سمیع الله ابراهیمی
دافغانستان بانک لومړی مرستیال

عبدالقدیرفطرت
دافغانستان بانک عمومي رییس

# ۴

# د سوداګریزو بانکونه څارنه

۱۳۸۵


# ٤

# د سوداګریزو بانکونو څارنه

د افغانستان بانک اړ دی چې د سوداګریزو بانکونو سره د خلکو د اماناتو د ساتلو په موخه سوداګریز بانکونه او نور پولي مؤسسات چې د افغانستان بانک څخه يې جواز اخیستی دی، تر څارنې لاندې ونيسي او د هغوی له فعالیتونو څخه ډاډ تر لاسه کړي. په ۱۳۸۵ هجري لمریز کال کې د افغانستان بانک ۱۵ بانکي مؤسسې تر دقيقې څارنې لاندې ونيولې او د هغوی د فعالیتونو او کړنو له میکانیزم څخه يې ډاډ تر لاسه کړ.په ۱۳۸۵ هجري لمریز کال کې د افغانستان بانک دری نویو سوداګریزو بانکونو (عزیزي بانک، د بنګله دیش برک بانک او د افغانستان پراختیایي بانک) ته د فعالیت جواز ورکړ چې په دې توګه تیرکال د سوداګریزو بانکونو شمیره ۱۵ ته ورسیده. د دې ۱۵ بانکونو په اړانه کې دری دولتي سوداګریزه بانکونه، اوه خصوصي سوداګریزه بانکونه او ۵ د بهرنيو بانکونو نمایندګی زموږ په هیواد کې فعالیت کوي.دا بانکونه په ټولیزه توګه ۱۵۸ نمایندګی ( ۱۱۸ غیرې محدودې نمایندګی او ۴۰ محدودې نمایندګی) د افغانستان په شلو ولایتونو کې لري.د افغانستان بانکي سیستم د ۱۳۸۳ کال له پیل څخه د ۱۳۸۵ کال تر پای پورې د پام وړ وده درلوده. د ۱۳۸۳، ۱۳۸۴ او ۱۳۸۵ کلونو لپاره په پرله پسې توګه د افغانستان د بانکي سیستم وده ٪۴۷، ٪۵۹ او ٪۷۶ اټکل شوی ده. په ټولیزه توګه ویلی شوو چې د ۱۳۸۳ کال له پیل څخه د ۱۳۸۵ کال تر پای پورې، بانکي سیستم په سلو کې ۳۱۳ وده درلودلی ده. په بل عبارت، د افغانستان د بانکي سیستم د ټولیزې شتمنی کچه د ۱۳۸۳ کال په پیل کې، د ۲۶۲ ملیون ډالرو (۱۳.۱ بلیون افغانیو) څخه د ۱۳۸۵ هجري لمریز کال په پای کې ۱۰۸۲ ملیون ډالرو (۵۴.۱ بلیون افغانیو) ته لوړه شوه. او په دې توګه د بانکي سیستم شتمنی په ۱۳۸۵ هجري لمریز کال کې د ۱۳۸۴ هجري لمریز کال په پرتله په سلو کې ۷۶ وده کړی ده.

| | د ۱۳۸۲ پای | د ۱۳۸۳ پای | د ۱۳۸۴ پای | د۱۳۸۵ پای |
|---|---|---|---|---|
| د شتمنیو مجموعه ( په بلیون افغانی) | ۲۶.۲ | ۱۹.۳ | ۳۰.۷ | ۵۴.۱ |
| د ودې کلنی سلنه | ۴۷٪ | | ۵۹٪ | ۷۶٪ |


همدا ډول بانکي سیستم کافي پانګه لري. دا وخت د بانکي سکتور ټولیزه پانګه ۲۲۸ ملیون ډالرو ته رسیږي. په لاندیني ګراف کې په ښکاره توګه لیدل کیږي چې د سوداګریزو بانکونو شتمنی کال په کال ډیروالی موندلی دی او دا ډیروالی پر بانکي سیستم د خلکو د اعتماد ښکارندوي کوي.




۱۳۸۳ ۱۳۸۴ ۱۳۸۵

په ۱۳۸۵ هجري لمریز کال کې ټولیزه ورکړل شوي پورونه ۴۳۹ ملیون ډالره (۲۱.۹ بلیون افغانی) وو چې د ۱۳۸۴ کال په پرتله ۱۷۱٪ وده ښکاره کوي. په ټولیزه توګه د ۱۳۸۳ کال څخه تر ۱۳۸۵ کال پورې د پورونو ودې صعودي بهیر درلودلی دی او په تیروو دریو کلونو کې یې په پرله پسې توګه ۲۲۲٪، ۱۷۹٪ او ۱۷۱٪ وده کړې ده. په بل عبارت، د بانکي سیستم ټولیز پور د ۱۳۸۳ کال له پیل ۱۸ ملیون ډالرو (۹ بلیون افغانی) څخه د ۱۳۸۵ هجري لمریز کال په پای کې ۴۳۹ ملیون ډالرو ( ۲۱.۹ بلیون افغانیو) ته لوړ شوی دی.

د پورونو له مجموع څخه ۸۸٪ یې خصوصي بانکونو پورې تړاو لري. ډیری پور(۸۸٪) سوداګریزې برخې ته ورکړل شوی دی او صعب الحصول پورونه د ټولیزو پورونو په سلو کې ۲.۲ جوړوي. د پورونو (۴۳ بلیون افغانی) ډیری برخه امانات جوړوي چې په ۱۳۸۵ هجري لمریز کال کې یې ۱۰۶٪ وده وکړه چې اوسنی مبلغ یې ۸۱۲ ملیونه ډالره (۴۰.۶ بلیون افغانی) دی. په





بانکي سیستم په ۱۳۸۵ هجري لمریز کال کې ۱۱۱ ملیون افغانی تاوان وکړ. د دې تاوان اصلي لامل د تاوانونو د تامین لپاره د زیرمې جوړول او د دولتي بانکونو پر پورونو صنف بندي او د خصوصي بانکونو لخوا د نویو نمایندګیو جوړول وو.

د ۱۵ بانکي موسسو څخه، شپږو بانکونو په ۱۳۸۵ هجري لمریز کال کې تاوان وکړ چې د دې جملې څخه څلور بانکونه تر ټولو ډیر تاواني شول. خو د دوو بانکي موسسو تاوان - یو دولتي بانک او یو خصوصي بانک - د بانکي سیستم پر ګټې تر ټولو ډیره اغیزه وکړه.


په ۱۳۸۵ هجري لمریز کال کې د دولتي سوداګریزو بانکونو ګروپ ۳۳۵ ملیونه افغانی او د سوداګریزو خصوصي بانکونو ګروپ ۸۰ ملیون افغانی تاوان وکړ، په داسې حال کې چې د بهرنیو بانکونو د نمایندګیو نګه ګټه ۳۰۴ ملیونه افغانی وه.

په ۱۳۸۴ هجري لمریز کال کې د دولتي سوداګریزو بانکونو نګه ګټه ۷۶ ملیونه افغانی، د خصوصي سوداګریزو بانکونو ۱۲۱ ملیونه افغانی او د بهرنیو بانکونو د نمایندګیو نګه ګټه ۹۸ ملیونه افغانی وه.





## جوازونه:

په ۱۳۸۴ هجري لمريز کال کې د افغانستان بانک سره د پولي خدماتو دوه جواز لرونکي راجستر وو، خو په ۱۳۸۵ هجري لمريز کال کې د پولي خدماتو څوارلس جواز لرونکو د افغانستان بانک د قانون په اړانه کې پولي خدمات عرضه کول.لاندی احصاییوي ګراف د پولي خدماتو د عرضه کوونکو هغه شمیره ښکاره کوي چې په ۱۳۸۴ او ۱۳۸۵ کلونو کې یې د جواز په لرلو سره پولي خدمات عرضه کول.



په ۱۳۸۴ هجري لمریز کال کې ۱۵۹ صرافان د افغانستان بانک د مالي نظارت عمومي مدیریت سره راجستر وو، په داسې حال کې چې په ۱۳۸۵ هجري لمریز کال کې اته تنو صرافانو جواز واخیست.



# ۵

# د تادیاتو بهیر

۱۳۸۵


# ۵

# د تادياتو بهير

د افغانستان بانک د تادياتو عمومي مديريت د پولي انتقال لپاره له ACSS, AFTS, SWIFT او تلگرام سيستمونو څخه کار اخلي. په ۱۳۸۵ هجري لمريز کال کې د تادياتو عمومي مديريت د دې سيستمونو په کارولو سره لاندې اجرات تر سره کړي دي.

۱. سويفټ ( نړيوالې معاملې): په ۱۳۸۵ هجري لمريز کال کې ۳۴۸۴ معاملې چې له دې جملې څخه ۶۴۱ ډالريزه وارده معاملې چې ارزښت يې ۱/۳۳۶/۴۹۵/۸۰۴ ډالره او ۲۸۴۳ ډالريزه صادره معاملې چې ارزښت يې ۲/۲۰۰/۴۷۵/۳۶۵ ډالره کيږي، اجرا شوي دي. په ټوليزه توگه د سويفټ د سيستم له لارې د ۳/۵۳۶/۹۷۱/۱۶۹ امريکايي ډالرو په ارزښت معاملې تر سره شوي دي. په منځني ډول د دې سيستم له لارې هره ورځ پولس معاملې تر سره شوي دي.


په ۱۳۸۵ هجري لمريز کال کې د صادره او وارده معاملو ټوليز مبلغ، ارقام په ميليارد افغاني



## ۲. د ACSS سیستم په کارولو سره بین البانکي معاملې:


د ۱۳۸۴ هجري لمریز کال په پرتله په ۱۳۸۵ کال کې د ACSS سیستم له لارې د انتقال شویو مبالغو او معاملاتو شمیره دو برابره ډیره شوه. په ۱۳۸۵ کال کې ۳۹۲۰ افغانۍ معاملې چې ارزښت یې ۱۵/۴۴۴/۳۴۶/۳۹۲ افغانۍ او ۱۰۸۰۰ ډالریزه معاملې چې ارزښت یې ۶۳۵/۹۷۶/۷۴۹ ډالرو ته رسیږي، اجرا شوي دي. په ټولیزه توګه په ۱۳۸۵ کال کې د ACSS له لارې ۱۴۷۲۰ معاملې تر سره شوي دي. د افغانۍ معاملاتو ډیروالې د ډالریزه معاملو په پرتله کم دی او په منځني توګه ورځ کې ۴۹ معاملې تر سره شوي دي.

په ۱۳۸۵ هجري لمریز کال کې د افغانۍ او امریکایي ډالرو په تفکیک سره د ټولیزو معاملو شمیر




## ۳. د AFTS سیستم په کارولو سره د نمایندګیو تر منځ معاملې:

د ولایتي انتقالاتو معاملې د AFTS په سیستم تر سره کیږي. دا معاملې، د دولتي ارګانونو، سوداګریزو بانکونو، ملي پیوستون، قونسلګریو او د امریکایي ځواکونو معاملې رانغاړي. د AFTS د افغانۍ معاملو کچه په ۱۳۸۵ کال کې ۹۴۲۴ معاملې وې چې ارزښت یې ۶۸۳۸۸۴۸۷۵۵۴ افغانۍ ته رسید او د ډالریزو معاملو کچه ۹۰۹ ته رسیده چې ارزښت یې ۲۲۹۹۱۷۴۵۲ امریکایي ډالره کیده. په منځني توګه په ۱۳۸۵ هجري لمریز کال کې په ورځ کې ۳۴ معاملې تر سره شوي دي.



**۴. د تلګرام له لارې معاملې:** په ۱۳۸۵ کال کې د صادره معاملو په برخه کې ۱۵۴ افغانی معاملې چې ارزښت یې ۱/۲۹۴/۹۸۴/۷۵۱ افغانی کیږي او د وارده معاملو په برخه کې ۱۵۶ افغانی معاملې چې ارزښت یې ۷۵۳/۵۳۵/۴۲۵ افغانیو ته رسیږي، تر سره شوي دي. همدا ډول څلور ډالریزه معاملې چې ارزښت یې ۲/۴۴۲/۰۴۲ ډالره کیږي اجرا شوي دي.په ټولیزه توګه په ۱۳۸۵ هجري لمریز کال کې ۲۸۸۵۱ معاملې اجرا شوي دي، چې ۱۵۱۹۷ معاملې یې ډالریزه چې ارزښت یې ۴/۴۰۵/۳۰۷/۴۱۵ امریکایي ډالره کیږي او ۱۳۶۵۴ افغاني معاملې چې ارزښت یې ۸۵/۸۸۱/۳۵۴/۱۲۲ افغانیو ته رسیږي، اجرا شوي دي.

په ۱۳۸۵ کال کې د سیستم په تفکیک سره د اجرا شویو ټولیزو معاملو شمیر




په ۱۳۸۵ هجري لمریز کال کې ۸۰/۲۰۶/۹۶۱ افغانی، ۶۶۲/۹۶۳ امریکایي ډالره، ۱۹/۵۳۵ ایرو او ۵۴۰ استرلینګ پونډ د انتقالاتو له کمیشن څخه د افغانستان بانک په عوایدو کې جریان پیدا کړی دی. •

# ۶


# پرمختیا

# او

# اداري بهیر

۱۳۸۵

# معلوماتي ټکنالوژي، د افغانستان بانک د عصري کیدو یون



د افغانستان بانک دخپلو کورنیو او بهرنیو فعالیتونو د کچې د لوړوالي په موخه په تیروو دوو کلونو کې د معلوماتي ټکنالوژۍ په برخه کې ښه پرمختګ درلود. په ۱۳۸۵ هجري لمریز کال کې د معلوماتي ټکنالوژۍ په ډګر کې لاندیني فعالیتونه او کړنې تر سره شوی:

- د VSAT مخابراتي سیستم له لارې د افغانستان بانک د شپږو ولایتي زونونو سره د مرکز نښلول
- دWAN کمپیوټري ټلفونونو نصبول چې د افغانستان بانک اړیکې یې د بانک د نورو نمایندګیو سره خوندي ساتلي دي او د اړیکو بیه یې ارزانه کړې ده.
- په مرکزي دفتر کې د بانکدارۍ سیستم د برنامې پیل، د نوموړي سیستم لپاره د سرور او نورو سافټ ویرونو نصبول
- د معلوماتي ټکنالوژۍ په برخه کې د افغانستان بانک د کارکوونکو د ستونزو د حل په موخه د تخنیکي مرستو د میز جوړول



- د کارکوونکو د زده کړې په موخه د افغانستان بانک د داخلي وب پاڼې جوړول. د افغانستان بانک کارکوونکي کولای شي د دې وب پاڼې د موادو په کارولو سره د منجمنټ، محاسبې، بانکدارۍ او د انګریزي ژبې په زده کړې کې کار واخلي •

# د افغانستان بانک د بیارغاونې په لور

په ۱۳۸۵ هجري لمریز کال کې د افغانستان بانک د بیارغاونې په برخه کې د نورو لاس ته راوړنو تر څنګ لاندې لاس ته راوړنې درلودلې:

- د افغانستان بانک د مرکزي ودانۍ بیارغاول.
- د افغانستان بانک په مرکزي ودانۍ کې د دوو نویو ودانیو جوړول.



- د څلورمې، نهمې او دیارلسمې ښاري څانګې بیارغاونه .
- د بلخ، آقچې، اندخوی، جوزجان، سمنګان او مزارشریف نمایندګیو بیارغاونه.

- د مرستندویو ټولنو په مرسته د اومې، یولسمې او دولسمې ښاري څانګې بیارغاونه .
- د مرستندویو ټولنو په مرسته د کندهار، قلات، فراه او هلمند ولایتي نمایندګیو بیارغاونه .
- د تخار دفبانک لپاره د ۴ کوټو جوړول
- د کندز دفبانک لپاره د ودانۍ پیرل
- د بامیان دفبانک لپاره د یوې نمرې پیرل



• په ۱۳۸۵ هجري لمريز کال کې د افغانستان بانک د کارونو د لا ښه پرمختګ په موخه، حقوقي مشاوريت او د امنيت عمومي آمريت د افغانستان بانک په اډانه کې جوړ کړ.

• د افغانستان د مالي رپوټونو او معاملو د شننو مرکز په ۱۳۸۵ هجري لمريز کال کې د آسيا پسيفيک ( Asia Pacific Group ) غړيتوب لاس ته راوړ او همدا ډول يې د آسيا - اروپا (Eurasian Group) ډله کې د څارونکي په ډول غړيتوب تر لاسه کړی دی.

• افغانستان د مخ په ودو هيوادونو د ۲۴ ډلې (G-24) په ناستو کې په ګډون پيل کړی دی.
همدا ډول افغانستان د سارک فايننس (SAARC FINANCE) چې د سويلي آسيا هيوادونو د سازمان مالي ارګان دی، په ناستو کې ګډون کوي.

• په ۱۳۸۵ هجري لمريز کال کې د افغانستان بانک د نوي جوړښت طرحه د مشرتابه پلاوي لخوا تر لاس لاندې ونيول شوه. د نوي اداري جوړښت طرحه په مرکز، ښاري څانګو او ولايتي نمايندګيو کې بشپړ شوې ده او تاکل شوې ده چې دا نوی جوړښت ډير ژر د افغانستان بانک لخوا اعلان شي. نوي اداري جوړښت به د افغانستان بانک په کړنو کې ډير جدي بدلون راوړي.

# د بانکي قوانینو او مقرراتو په برخې کې بدلونونه

د افغانستان بانک په تیروو دوو کلونو کې د مقرراتو او قوانینو په ډګر کې مهمې لاسته راوړنې درلودلې دي. په ۱۳۸۵ هجري لمریز کال کې لاندې قوانین او مقررې د بانک د عالي شورا لخوا تعدیل او په تصویب ورسیدې:



- د بانکي مؤسساتو کریډټي خطراتو سره پر لویو پورونو د محدودیتونو مقرره
- د شتمنیو د تصنیف بندۍ او ارزونې، د زیرمو ټاکل او د ناسنجش شویو حالاتو مقرره
- د پولي خدماتو د برابرونکو مقرره
- د پیسو د سپینوالي او د تروریزم د تمویل په وړاندې د مالي مؤسساتو د مسئولیتونو مقرره
- د معاملې وړ اسنادو قانون
- د منقولو او نا منقولو اموالو لپاره د تضمین د معاملاتو قانون
- د تدارکاتو مقرره

## د نویو مسکوکاتو معرفی کول



په ۱۳۸۵ هجري لمریز کال کې په ټولیزه توګه ۴۲۸۴۰۰۰۰۰ افغانۍ نوي مسکوکات په جریان کې واچول شول او ۱، ۲ او ۵ افغانیګي بانکنوټونه له بازارونو څخه راټول او وسوځول شول او پر ځای یې مسکوکاتو ګردښت موندو. د ۱۳۸۵ هجري لمریز کال له پیل څخه تر پای پورې په ټولیزه توګه ۵۹۸۵۵۶۳۰۰ افغانۍ ۱، ۲ او ۵ افغانیګي بانکنوټونه د مرکز او ولایتي نمایندګیو له لارې راټولې شوې او مرکز ته ولیږدول شوې او د څارونکي پلاوی تر پام لاندې د مرکزي بانک په ځانګړې بټۍ کې وسوځول شوې.

## د زړو بانکنوټونو بدلول



د ۱۳۸۵ هجري لمریز کال له پیل څخه تر پای پورې په راکړې ورکړې کې د اړینو آسانتیاوو د رامنځته کولو په موخه د افغانستان بانک ۷۷۱۴۴۳۸۰۰ افغانۍ زاړه بانکنوټونه را ټول او د بدلول ورسته یې وسوځول.

## د افغانۍ د دودلو کمپاین



د افغانستان بانک د افغانۍ د ارزښت د ټیکاو په موخه هڅه وکړه چې د افغانۍ د کارولو لپاره یو ښوونیز کمپاین په لاره واچوي. په ورته وخت کې د افغانۍ د دودلو په موخه د وزیرانو د عالي شورا د ۱۳۸۳\۱۲\۱۷ نیټې د ناستې د ۱۳ ګڼې د مصوبې پر بنسټ، د پرله پسې اطلاعیو وروسته په ۱۳۸۵ هجري لمریز کال کې سرغړونکي په مرکز او ولایاتو کې ۴۱۸۰۰۶۹ افغانۍ د افغانستان بانک لخوا نقدي جریمه شوي دي. له دې پیسو څخه د هیواد په رسنیو کې د افغانۍ د دودلو د کمپاین لپاره ګټه اخیستل کیږي.

## عامه ښوونیز کمپاین



د افغانستان بانک د بیرنګ پاینټ دفتر په مرسته د بانکدارۍ د خدماتو په اړه د خلکو د پوهیایي د لوړوالي په موخه په ۱۳۸۵ هجري لمریز کال کې عامه ښوونیز کمپاین په لاره واچو. دا عامه کمپاین چې د بانکدارۍ په اړه د خلکو لپاره پیغامونه رانغاړي، هره اونۍ د کابل ښار په ګڼ میشتو سیمو، سوداګریزو بانکونو او شهزاده سراي کې خپریدل.

## رسنیزه ناستې




د افغانستان بانک مشرتابه پلاوي د هیواد د اقتصادي لاسته راوړنو د لا انعکاس ورکولو په موخه په ۱۳۸۵ هجري لمریز کال کې د رسنیزو ناستو لړۍ تر لاس لاندې ونیوله. په دې ناستو کې د هیواد د کلیدي وزارتونو محترم وزیران د افغانستان د اقتصادي ودې، ننګونو، لاسته راوړنو او څرنګوالي په اړه خبریالانو ته معلومات ورکوي.

## رسنیزه خبرتیاوې



د افغانستان بانک د افغانۍ د دودلو په موخه په ۱۳۸۵ هجري لمریز کال کې د افغانۍ د دودلو لپاره د تبلیغاتو نوښت د هیواد په چاپي، انځوریزه او غږیزه رسنیو کې تر لاس لاندې ونیو. د دې تبلیغاتو څخه موخه، په ورځنۍ راکړې ورکړې کې د افغانۍ دودلو دي او خلک هڅوي چې د افغانۍ د ارزښت د ټیکاو، د هیواد قانون او خپل هویت ته د درناوی په موخه، په خپلو راکړو ورکړو کې له افغانۍ څخه کار واخلي.

## په GDDS کې غړیتوب

• د افغانستان بانک په ۱۳۸۵ هجري لمریز کال کې د پیسو د نړیوال صندوق د GDDS ( دعمومي معلوماتو د خپرولو سیستم) غړیتوب تر لاسه کړ چې له مخې یې د افغانستان د اقتصاد په اړه معلومات د دې ادارې په وب پاڼې کې د لاسرسی وړ دي. د دې سیستم پر بنسټ د افغانستان بانک احصائیوي معلومات په ربعواره ډول په دې وب پاڼې کې خپریږي.

## د ناظر کل د ادارې کړنې

• د ناظر کل اداره د یوې خپلواکې ادارې په توګه د افغانستان بانک د قانون د ۲۱ مادې پر بنسټ او د افغانستان بانک د عالي شورا چې د مرکزي بانک تر ټولو لوړ رهبري ارګان دی، د مستقیم حمایت لاندې د افغانستان بانک د داخلي کړنو د ارزونې په موخه د ۱۳۸۳ هجري لمریز کال د سلواغې میاشتې کې جوړه شوه. د ناظر کل اداره هغه مهال جوړه شوه چې مرکزي بانک د نړیوالو مؤسساتو مرستې سره د عصرې کیدو خوا ته چې ډیر اړین بریښیده، ګام ایښودی و او مرکزي بانک هغه مهال له پخوانیو او نویو اسلوبونو څخه کار اخیستو. دې ادارې په ۱۳۸۵ هجري لمریز کال کې د مرکز د مهمو شعبو، ښاري څانګو او د ولایتونو، ولسوالیو او د بنادرو یو شمیر زیاتو نمایندګیو د ۱۳۸۴ هجري لمریز کال اجرات د نړیوالو منلو شویو ستندردونو او معیارونو سره وڅیړل او وارزول.

## د بانک موزیم

• د افغانستان بانک په ۱۳۸۵ هجري لمریز کال کې د بانک د موزیم د جوړولو نوښت تر لاس لاندې ونیو. ټاکل شوی ده په دې موزیم کې چاپ شوی پیسې او د افغانستان بانک اړوند نور تاریخي مواد ننداړې ته کیښودل شي. د بانک موزیم د افغانستان بانک د تاریخي هویت ښکارندوي کوي.

# ۱۳۸۵ هجري لمريز کال د افغانستان بانک د ظرفيتونو د لوړوالي کال



د افغانستان بانک د کارکوونکو د ودې او پرمختګ اداره چې د ۲۰۰۵ کال د فبرورۍ په نهمه نېټه جوړه شوه، په لاندې درې برخو کې د بانک کارکونکو ته ښوونيز او روزنيز پروګرامونه برابروي.

- دننه په هيواد کې ښوونه
- له هيواد څخه بهر ښوونه
- د بانک د راتلونکو رهبرانو ښوونه



په ۱۳۸۵ کال کې ۱۶۱ خصوصي او عمومي ښوونيزو کورسونه جوړ شول چې په هغه کې د افغانستان بانک ۴۵۷ کارکونکو ښوونه تر لاسه کړه. همدا ډول په ۱۲۲ کورسونو کې ۱۶۸۹ کرته زده کوونکو ښووونه وليده او ۳۵ کورسونو کې ۵۰۴ زده کوونکو زده کړه کوله.



د نوي بانکي سيستم سره د آشنا کيدو په موخه د افغانستان بانک په ۱۳۸۵ هجري لمريز کال کې د Core Banking System د پروګرام ښوونيز کورس هم پيل کړ. همدا ډول د افغانستان بانک ۶۳ کارکونکو ته په بهرني هيوادونو کې د ټرينګ او ښوونې زمينه برابره کړې ده.

# د بشري ځواک په برخه کې د افغانستان بانک فعاليتونه


- د اداري اصلاحاتو بهير (پي آر آر) د ۱۳۸۳ کال له زمري مياشتې پيل او تر اوسه پورې ۵۰۸ تنه کارکونکي په دې بهير کې شامل شوي دي.
- د دايکندي د دفبانک د نمايندګی جوړول او د خوست په ګمرک کې دغلام خان او جاجي ميدان په نامه د دوو نمايندګيو منظوري او د نيمروز په ګمرک کې د دفبانک د غرفې جوړول
- د افغانستان بانک د کارکوونکو د روغتيايي ستونزو لپاره د روغتيايي کلينک جوړول
- د ۱۳۸۶ هجري لمريز کال د تشکيل سمونه او تنظيم او د افغانستان بانک د عالي شورا څخه د هغې منظوري اخيستل
- د کارکوونکو د ډيټابيس جوړول

د بشري منابعو آمريت په اډانه کې د پاليسی مديريت جوړول

- د افغانستان بانک د کارکوونکو د حاضري سيستم کمپيوټري کول
- په بانکونو کې د استخدام د مقررې او د دولت د کارکوونکو د قانون پر بنسټ، د بانک په مرکز کې ۱۵۷ تنو ترفيع تر لاسه کړه او ۶۳۷ تنه د معاش سره ترفيع وکړه. همدا ډول۷۶ کسانو په شهري څانګو کې ترفيع وکړه او ۳۳۲ کسانو د معاش سره ترفيع تر لاسه کړه.
- ۱۲۳ تنو د ولاياتو په نمايندګيو کې ترفيع وکړه او همدا ډول ۴۷۹ کسانو د معاش سره ترفيع وکړه
- په ۱۳۸۵ هجري لمريز کال کې د دفبانک ۶۲ کارکوونکي تقاعد ته سوق کړای شول چې لسو کسو د خدمت موده د شعباتو د اړتيا او د بانک د عامل پلاوي په منظورۍ وغزول شوه.








## • په مستقیمه توګه د معاشونو د ویشلو برنامه:

د ۱۳۸۳ کال راپدیخوا د افغانستان بانک د دولت کارکونکو ته په مستقیمه توګه د معاش د ورکړې لړۍ پیل کړی ده. په ۱۳۸۵ هجري لمریز کال کې هم د افغانستان بانک د ۹ ښاري څانګو لخوا پولیسو ته په مستقیمه توګه تنخوا ورکړل شوه. په ۱۳۸۵ کال کې د افغانستان بانک د ګرځنده ډلو او ښاري څانګو لخوا ۳۴۵۰۷۷ دولتي کارکونکو ته په مستقیمه توګه تنخوا ورکړل شوی ده.



## • د پیسو د پریمنځلو پر ضد د مبارزې قانون او د ترهه ګرۍ د تمویل ضد مبارزې قانون:

په ۱۳۸۵ هجري لمریز کال کې دوه قانونه، د پیسو د پریمنځلو پر ضد د مبارزې قانون او د ترهه ګرۍ د تمویل ضد مبارزې قانون د افغانستان بانک لخوا تر لاس لاندې ونیول شو. په دې لړ کې د افغانستان د مالي رپوټونو او د معاملاتو د شننو اداره رامنځ ته شوه.